**د افغانستان اسلامي امارت**

**د پوهنې وزارت**

**د کونړ ولایت د پوهنې ریاست**

**د کیفیت تضمین آمریت**

**د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مدیریت**

# د کونړ ولایت د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ کلنی راپور




د راپور ورکولو دوره: (حمل ـ حوت) ۱۴۰۴ هـ ش کال

## مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۴هـ ش کال د کلني راپور د ترتیب کوونکو نوملړ ..... 1

د ولایت په هکله عمومي معلومات ..... 2

سریزه ..... 5

لومړی برخه ..... 6

د کړنو لنډیز ..... 6

دویمه برخه ..... 9

د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ ..... 9

برنامه 1: اسلامي زده کړې ..... 9

1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ..... 9

1.2 مدرسی/ ښوونکی/ښوونکی ..... 10

1.3 نصاب ..... 12

1.4 ښوونیزه ارزونه ..... 13

1.5 ښوونیز چاپیریال ..... 13

1.6 د ټولنې ګډون ..... 14

1.7 مدیریت ..... 14

برنامه 2:ښوونه او روزنه ..... 15

2.1 زده کوونکی ..... 15

2.2 ښوونکی ..... 18

2.3 نصاب ..... 22

2.4 ښوونیزه ارزونه ..... 24

2.5 ښوونیز چاپېریال ..... 24

2.6 د ټولنې ګډون ..... 31

2.7 مدیریت ..... 32

برنامه 3: تضمین کیفیت ..... 36

3.7 مدیریت ..... 36

برنامه 4: مالي او اداري ..... 40

4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/د سواد زده کړې زده کوونکی ..... 40

4.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی ..... 40

4.3 نصاب ..... 40

4.4 ښونیزه ارزونه .......... 40
4.5 ښوونیز چاپیریال .......... 41
4.6 د ټولنې ګډون .......... 44
4.7 مدیریت .......... 45
5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و...) .......... 47
5.1 طالب العلم، حافظ، زده‌کوونکی او سواد زده‌کوونکی.......... 47
5.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی .......... 47
5.3 نصاب .......... 47
5.4 ښوونیزه ارزونه .......... 48
5.5 ښوونیز چاپیریال .......... 48
5.6 ټولنې ګډون .......... 48
5.7 مدیریت .......... 48
درېیمه برخه .......... 50
غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه .......... 50
څلورمه برخه .......... 54
تحلیل او پایلې .......... 54
پنځمه برخه .......... 121
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې .......... 121
شپږمه برخه .......... 122
مالي راپور تحلیل .......... 122
اوومه برخه .......... 123
ملپاڼې .......... 123

## د ۱۴۰۴هـ ش کال د کلني راپور د ترتیب کوونکو نوملړ

| نوم او تخلص | دنده | برېښنالیک | ګرځنده شمېره/وټساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| قاري احسان الله (محمود) | د ښوونې او روزنې آمر | Kunar.edu2010@gmail.com | 0764190054 | |
| مولوي محمد خالد (فیضاني) | د اسلامي زده کړو آمر | Kunar.edu2010@gmail.com | 0764256235 | |
| الحاج عزیزالرحمن (پیوستون) | د سرچینو او اداري آمر | Aziz.paiwastoon2018@gmail .com | 0777711958 | |
| جاوید (جواد) | د کیفیت د تضمین آمر | Javid.jawad1@gmail.com | 0777700952 | |

### د پوهنې د رئیس تأییدي:

| نوم او تخلص | دنده | برېښنالیک | ګرځنده شمېره/وټساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوي محیب الله (حیدري) | د کونړ پوهنې رئیس | Muhibullahhaidari21@gm ail.com | 0765252376 | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات

کونړ د پخوانیو مؤرخینو په آثارو کې د کنړ- کنیر- کهیوس Khoes - کونړKunar- کولو- کونړ او داسې نورو نومونو سره یادشوی دی.

همدا شان کونړ (کو د اوبو د ځاه او رود) معنی لري نو له همدې وجې زیاتره اوسېدونکي یې د اوبو د ځاه یا د اوبو د رود درې په نامه هم یادیږي.

د پوهاند عبدالحی حبیبي د پنځوسو مقالو د پساندونو په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

کُنار یعني کونار چې جمله یې داسې په قوس کې لیکل شوې ده ( رود دره کاغان شرقي پکهلي ضلع هزاره) دلته مطلب د کوځخه دی چې په نومونو اثر کې د رود او اوبو په معنی استعمال شوی دی.

### جغرافیایي موقعیت:

کونړ ولایت د افغانستان په ختیځ کې د کابل ځخه په ۲۳۸ کیلومتره فاصله کې پروت دی. چې مساحت یې ۴،۵۲٦ کیلومتر مربع دی، ا و د ټول هیواد ۰.۷۵ سلنه مساحت تشکیلوي.




شمال ته یې نورستان، جنوب ته یې ننګرهار، لویدیځ ته یې د لغمان ولایت او په ختیځ کې د خیبر پښتونخوا سیمې سره په ۱۷۵ کیلومتره اوږدوالي موقعیت لري. چې مرکز یې د اسعدآباد ښار دی، چې د بحر د سطحې ځخه ۸۲۷ متره لوړوالی لري.

دا یو غرنی ولایت دی، چې غرونه یې د نښترو، ځیړی، زیتون، او نورو ونو په ځنګلونو پوښلي دي، او ښکلا یې زیاته کړې، مشهور ځنګلونه یې له ناړۍ، غازي آباد، پیچ درې، وټه پور، ځوکۍ، نرنګ او چپه درې عبارت دي؛ چې د کونړ نښترو لرګي په نړیوالو بازارنو ښه شهرت لري. د یاد ولایت ډېری خلک په بزګرۍ بوخت دي؛ چې مشهور کرنیز محصولات یې له غنم، جوار او شولي ځخه عبارت دي.

همدارنګه په یاد ولایت کې میوه جات هم کیږی، چې له ډلې یې غـوزان، انګور، زردالو، شفتالو، مالټې، نارنج، امـلـوک او هندواني د یادولو وړ دي.

دا ولایت د تودې او سړې هوا لرونکې دی، چې په ژمي کې د حرارت درجه ۱۲ او په دوبي کې تر ۳۸ درجو سانتي ګراد پورې لوړیږي.

د یاد ولایت اړوند ٦ ولسوالۍ یې د ګرمو سیمو او ۱۰ ولسوالۍ یې د سړو سیمو لرونکې دي.

### معدنیات:

په چپه دره او پیچ درې ولسوالیو کې د بیروج، تخته پټ او داسې نورو قیمتي ډبرو معدنونه چې زیات نړیوال شهرت لري، شتون لري.

## سیاسي وضعیت:

د کونړ ولایت په ۱۳۴۴ لمریز کال کې د افغانستان د اداري ولایتونو څخه وشمېرل شو، چې اوس مهال ۱٦ اداري واحدونه او د ولسوالیو په کچې ۱،۱۸۱ کلي او بانډې لري، ولسوالۍ یې له: نرنګ، څوکۍ، نورګل، خاص کونړ، سرکانۍ، مره وره، وټه پور، پیچ دره، چپه دره، شیګل، شلتن، برکونړ (آسمار)، دانګام، غازي آباد ناړۍ او مرکز یې اسعدآباد ښار عبارت دي،د یادو ولسوالیو له ډلې څخه خاص کونړ، سرکانۍ، منوره ، شیګل، شلتن، دانګام او ناړۍ د فرضي کرښې ترڅنګ پرتې دي.

## ټولنیز وضیعت:

د کونړ ولایت د مرکزي احصائیې د اداري د معلوماتو پر بنسټ په اټکلي توګه په دې ولایت کې ۵۷٦،۰۰۰ تنه هستوګن دي، چې له دې ډلې ۲۷٦،۴۸۰ تنه چې ۴۸ سلنه کېږي ښځینه دي. د کونړ ولایت له ټولیز نفوس څخه ۳۵،۰۰۰ تنه په مرکز اسداباد او پاتې یې په کلي او بانډو کې اوسیږي.

په دې ولایت کې لوې قومونه لکه صافي، شینواري، مشوانې، سالارزي، نورستاني، پشه یي، کوهستاني، دیګان، ګوجر، ماموند، مومند، او نور ژوند کوي چې په پښتو، نورستاني، ګجري، پشه یي او کوهستاني ژبو خبرې کوي. په دې ولایت کې دولتي اداري په پښتو او دري ژبو خپل ورځنۍ کړنې تر سره کوي.

## د ښوونې او روزنې وضیعت:

د دې ولایت ۵۵ سلنه خلک په ښاري سیمو کې او ۴۵ سلنه خلک په کلیوالي سیمو کې لوستي دي، همدارنګه د کونړ ولایت په ټولو ولسوالیو کې ۷۸۰ بابه زده کړیز مرکزونه شتون لري، چې له دې جملې څخه ۴۳۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځي لري، د عمومي زده کړو له ښوونځیو څخه ۲۴۰بابه لومړني ښوونځي، ۹٦ بابه منځنې ښوونځي او ۱۰۳ بابه لیسې او ۲۹ بابه خصوصي ښوونځي لري، همدارنګه د اسلامي زده کړو امریت اړوند ۳۱۲ بابه ښوونیز مرکزونه شتون لري، چې له دغې جملې څخه ۱۱۹ بابه دیني مدرسې، ۳ بابه دارالحفاظونه، ۴ بابه دارالعلومونه، ۱٦ بابه لیلیه مدارس، ۱٦۲ بابه کلیوالي مدارس او ۸ بابه خصوصي دیني مدرسې دي. (د نورو معلوماتو لپاره دې ۵ مې ګڼې ملیاتې ته کتنه وشي)؛ همدارنګه د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې د حاضر زده کوونکو شمېر ۱۷۲،۵۷۴ تنه دی چې، په دریو دورو کې،په زده کړو بوخت دي.

(د نورو معلوماتو لپاره دې ۴ مې ګڼې ملیاتې ته کتنه وشي).

د پوهنې ریاست تر چتر لاندې په کلیوالي، چټکو او لنډ مهاله زده کړو په برخه کې لاندې همکار مؤسسات په کار بوخت دي:

۱: د افغانستان ځلانده ستوري ښوونیزه مؤسسه (SSEOA)

۲: د ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسه (OCCD)

۳: د افغان معلولینو لپاره د بایسکل چلولو او بیارغونې تفریحي مؤسسه(AABRAR) ( په کونړ ولایت کې درې تعلیمي پروژې لري)

۴: د افغانستان حقوقي او اجتماعي مؤسسه (ASLO)

۵: وطن د پراختیا او نوښت مؤسسه (WDIO) ( په کونړ ولایت کې درې تعلیمي او یوه د سولرو دنصبولو پروژه لري).

٦: د عدالت غوښتنې او پیاوړتیا مدني مؤسسه(COAR).

۷: د نوې ټولنې بیا رغونې او پراختیا مؤسسه (NSRDO).

۸: د افغانستان د بیا رغونې او د ښځو لپاره تعلیمي اداره ( ARWEO).

۹: د افغان ځوانانو خدماتي مؤسسه (AYSO).

۱۰: د افغانستان د ستراتیژیک او پالیسۍ د مطالعاتو مؤسسه (ASPSO)

(د نورو معلوماتو لپاره دې ۳مې ګڼېملپاڼې ته کتنه وشي)

همدارنګه په کونړ ولایت کې د سیدجمال الدین افغان په نوم یو دولتي پوهنتون شتون لری، چې شرعیات، ښوونې او روزنې، کمپیوټر ساینس، زراعت او اقتصاد پوهنځي په کې فعال دي او همدارنګه د تنویر په نامه یو خصوصي پوهنتون هم فعالیت لري.

د کونړ ولایت په مرکز اسعدآباد ښار کې یو باب دولتي ۲۰ بستریز روغتون شتون لري، چې ۲۴ ساعته د ناروغانو په درانه چوپړ کې خدمات وړاندې کوي. همدارنګه ۱ باب دولتي ۲۰۰ بستریز روغتون تر کار لاندې دی.

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

**<u>الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين محمد وعلى آله و اصحابه اجمعين.</u>**

**<u>اما بعد:</u>**

**د ۱۴۰۴ هـ ش کال عملياتي پلان د کونړ ولایت د پوهنې رياست له کاري اړتياوو او لومړيتوبونو سره سم، د پنځو بنسټيزو پروګرامونو تر چتر لاندې ترتيب شوی دی، چې په کې اسلامي زده‌کړې، ښوونه او روزنه، د کيفيت تضمين، مالي او اداري چارې او د مقام دفتر شامل دي. دغه پلان د زده‌کړيز نظام د اوو اساسي عناصرو (زده‌کوونکی/شاګرد/سوادآموز، ښوونکی/استاد/معلم، نصاب، ښوونيزه ارزونه، روزنيز چاپېريال، د ټولنې ګډون او مديريت) پر بنسټ، د ولايت مرکز او ولسواليو په کچه طرحه او ترتيب شوی دی.**

**ياد عملياتي پلان د پوهنې وزارت د محترم مقام له لوري تر تأييد او منظورۍ وروسته، له اړوندو مسؤلينو سره شريک شوی او عملاً تر تطبيق لاندې نيول شوی دی.**

**د راپور ورکولو او راپور ترلاسه کولو سيستم د اغېزمن مديريت له مهمو اصولو څخه ګڼل کېږي، چې د کونړ ولايت د پوهنې رياست په مرکز او ولسواليو کې رامنځته شوی دی. د همدې سيستم له مخې، د يادو پلانونو د تطبيق او پرمختګ په تړاو منظم او دوراني راپورونه ترتيبېږي، چې تر تجزيې، تحليل او توحيد وروسته ترې ګټه اخيستل کېږي.**

**د راپورونو د ترلاسه کولو په موخه، د مياشتني او ربعوار راپور ورکولو فارمټونه ترتيب شوي دي. د راپور ورکولو کړنلاره او ټاکلي مهالويش له مخې، د عملياتي پلان د تطبيق او پرمختګ مياشتني او ربعوار راپورونه د ولايت د مرکزي تشکيلاتو له آمريتونو او د ولسواليو د پوهنې له آمريتونو څخه ترلاسه کېږي، چې تر سمون او وروستۍ بڼې وروسته له اړوندو مسؤلينو سره شريکېږي.**

**د پلانونو د پرمختګ راپورونو او د پوهنې رياست د لاسته‌راوړنو د وړاندې کولو په لړ کې، دا مهال د کونړ ولايت د پوهنې رياست د ۱۴۰۴ هـ ش کال د عملياتي پلان د تطبيق او پرمختګ کلني راپور، په لاندې اوو بنسټيزو برخو کې ترتيب شوی او د راتلونکو اجراآتو لپاره پوهنې وزارت ته وړاندې کېږي:**

**۱- د کړنو لنډيز**

**۲- د فعاليتونو تشريحي برخه**

**۳- له پلان څخه د باندې د ترسره شوو فعاليتونو اجراآت (کړنې)**

**۴- تحليل او پايله (تحليلي جدول)**

**۵- ستونزې او د حل لارې**

**٦- لګښتونه او بودجه (مالي راپور)**

**۷- ملپاتې**

# لومړی برخه

## د کړنو لنډیز

### زده کوونکی

- د کونړ ولایت د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري په سږو او تودو سیمو کې ټولټال ۱۵،۴۲۶ تنه زده کوونکي نوي جذب شوي، چې له دې ډلې څخه ۹،۲۲۶ تنه هلکان او ۶،۲۰۰ تنه نجونې دي.
- د تثبیت ازموینو له لارې ۲،۰۹۰ تنه زده کوونکي، چې له دې ډلې ۱۳۲ تنه یې په لومړۍ، ۹۵۰ تنه په منځنۍ او ۱،۰۰۸ تنه یې په لیسې دوره کې د ښوونې او روزنې د امریت له لوري شامل شوي دي.

### مدرسی/ ښوونکی/ښوونکی

- د دې ولایت په کچه، د ۳۲۲ بابه دیني مدرسو اړوند د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لارښود تطبیق په موخه اړینې لارښوونې ورکړل شوې دي.
- د دې ریاست د مرکزي هستې ٦ او د ولسوالیو ۴ تنو مدرسینو ته میتودیک ورکشاپ ورکړل شوی.

### نصاب

- د دې ریاست له خوا د ساینس مدیریت له لوري ۲۵ بابه ښوونځیو ته ۱۶۸ ټوکه د تجربو لارښود کتابونه ویشل شوي دي.
- د دې ولایت په کچه، ۲۳ د ریاضي کیټونه، ۳ د بیولوژي کیټونه او ۴۶۱ رنګه چارټونه ویشل شوي دي.
- د اسلامي زده کړو امریت له لوري ۱۶۲ بابه مدرسو ته ۲۲،۸۰۰ ټوکه دیني کتابونه او د عمومي زده کړو ښوونځیو ته ۱۴،۸۴۶ درسي کتابونه ویشل شوي، همدارنګه د یاد ولایت په کچه ۷۰ تنه کوچي زده کوونکي جذب شوي دي.

### ښوونیزه ارزونه

د دوې ولایت اړوند د علمای کرامو څخه د سویې د تثبیت په موخه ازموینه اخېستل شوې ده چې په پایله کې د ۱۸۵ تنه علمای کرامو سندونه د دولسم ټولګي په کچه او همدارنګه د ۳۵ تنه علمای کرامو سندونه د څوارلسم ټولګي په کچه تثبیت شوي دي.

### ښوونیز چاپیریال

- د دې ولایت په اړوند ډیپوګانو کې ۱،۰۸۶ قلمه مواد اضافه پیژندل شویدي، چې له دغې جملې څخه ۸۸۵ قلمه مواد د کیمیا، ۱۸۲ قلمه مواد د فزیک، ۱۷ قلمه د بیولوژۍ او ۲ قلمه د ریاضي په برخه کې دي
- د یاد ولایت په کچه، ۲۲۰ بابه ټولګیو ته خدمتي ښوونکي ګمارل شوي او د بې ښوونکو ټولګیو احصائیه له وزارت سره شریکه شوې ده.
- د څارندوی مدیریت له خوا، د کونړ په ۱۱ سږو سیمو ولسوالیو کې د ښوونځیو د زرغونتیا په موخه ۴۰۰ مثمر او غیر مثمر نیالګي کینول شوي دي.

### د ټولنې ګډون

- د ښوونیزو برنامو د ښه تطبیق په موخه د مرستیال والي په مشرۍ ۴، د ولسوالیو په کچه ۱٦ او د کلیو په کچه ۱۷۵ غونډې ترسره شوې دي.
- د بدني روزنې مدیریت له خوا د خپلواکۍ د ورځې لمانځلو په موخه، د مختلفو ولسوالیو ٦ ټیمونو ترمنځ ورزشي سیالي تنظیم شوې ده.

مدیریت

- د زده‌کړې پراخ شمولیت په موخه، د دې ریاست له لوري د ۴۳۹ بابه ښوونځیو په کچه د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره شوي دي.
- د دې ولایت په کچه، ۲۴۲۰ تنه زده‌کوونکو ته د مخدره موادو زیانونو په اړه د پوهاوي پیغامونه اورول شوي دي.
- د احصائیې عمومي مدیریت له لوري، ۱٦ ولسوالیو ته ۷۸۰ احصائیوي فورمې ویشل شوي، چې له ډکېدو وروسته او د معلوماتو مدیریت په سیستم کې ثبت شوې دي.
- د دې پوهنې ریاست په کچه، د راپور ورکولو انلاین سیستم اصلاح شوی، او د اړوند ولسوالیو څخه ۱۴۴ میاشتني راپورونه راټول شوي، چې له یادې جملې څخه ۴۲ راپورونه په سیستم کې ثبت شوي دي.

## د پام وړ ستونزې

- د ښوونکو او اداري کارکوونکو لپاره د روزنيز پروګرامونو کمښت.
- دمسلکي ښوونکو کمښت.
- د معلول زده کوونکو لپاره د خاص مرکزونو نشتون.
- د ۲۵۵ بابه ښوونځيو لپاره د سرپناه کمبود.
- د درسي کتابونو او کومکي موادو کمښت.
- د سواد زده کړې کتابونو کمښت
- د ساینس، رياضياتو او کمپيوټر د لابراتوارې موادو کمښت.
- د کمپيوټر ليبونو او د لابراتوارونو کمښت.
- د لابراتوارونو لپاره د مناسب چاپيريال نشتون.
- د عملياتي پلان ډيرى فعاليتونو د ترسره کولو لپاره د بوديجې کمښت.
- د ښوونکو د روزنې مسلکي کادرونو لپاره د ترانسپورټ نشتون.
- د درسي چاپيريال لپاره د ودانی، ميز او څوکېو کمښت.

## حل لارې

- د ښوونکو، اداري کارکوونکو، مديرانو او د مسلکي پراختيا غړو لپاره ځانګړي روزنيز پروګرامونه ترتيب او هم ورته بوديجه ځانګړې شي.
- د مسلکي ښوونکو لپاره په تشکيل کې زياتوالی راوستل شي.
- د اسلامي امارت او همکارو مؤسساتو په همکارۍ د معلولينو زده کوونکو لپاره ځانګړي مرکزونو جوړ شي.
- د عادي بوديجې څخه او يا د مؤسساتو پر مټ دې د ښوونځيو سرپناه جوړ شي.
- د ښوونځيو او زده کوونکو د اړتياوو سره سم دې درسي کتابونه او ممد توکې په ټاکلي وخت برابر او د پوهنې رياست اړوند ښوونځيو ته واستول شي تر څو د زده کړې په بهير کې کوم خنډ او ځنډ رامنځ ته نشي.
- د سواد زده کړو کورسونو د شمېر په تناسب کتابونو چاپ شي.
- د ساينس، رياضي او کمپيوټر د لابراتوارې موادو لپاره بوديجه ځانګړې او په خپل ټاکلې وخت ښوونځيو ته وويشل شي.
- د همکارو مؤسساتو په همکارۍ د دولتي ښوونځيو لپاره مجهز لابراتوارونه او کمپيوټر ليبونه جوړ شي، ترڅو زده کوونکې د نظري زده کړو تر څنګ له عملي زده کړو څخه هم برخمن شي.
- د ښوونځيو د رشتوي اړتياوو سره سم مسلکي او د رشتې د اړتيا پر بنسټ ښوونکې په دندو وګمارل شي تر څو د مسلکي ښوونکو د کمښت ستونزه حل شي.
- د عملياتي پلان د ساحوي فعاليتونو د ترسره کولو لپاره دې باید ځانګړې بوديجه ورکړل شي.
- باید د ښوونکو د روزنې مسلکي کادرونو لپاره د ترانسپورټ آسانتياوې برابرې شي.

## دویمه برخه

### د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ

دا برخه د پرمختګونو، احصائیوي معلوماتو او شمېرو شننه او سپړنه په بر کې نیسي، چې د عملیاتي پلان د ټاکل شوو عناصرو او لومړیتوبونو لرونکې ده. پرمختګونه د هر پروګرام په کچه د ټاکل شوو شاخصونو او موخو له مخې په مفصل ډول تشریح کېږي.

### برنامه 1: اسلامي زده کړې

### 1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی

**1.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړو په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول**

#### 1.1 فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونو کې د طالب العلمانو جذبول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د ۱۶ولسوالیو په دیني مدرسو او دارالحفاظونو کې ٦،۸۸۱ تنه طالب العلمان جذب شوي دي، چې له دغې ډلې څخه ۴،۷۱۴ تنه هلکان او ۲،۱٦۷ تنه انجونې دي؛ چې په دې سره دیني مدرسو او دارالحفاظونو کې دیني زده کړو پراختیا مومندلې، د قران کریم حفظ او اسلامي ارزښتونه غښتلي شوي دي.

#### 1.2 فعالیت: په دارالعلومونو کې د شمولیت زیاتوالی

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا په څلورو دارالعلومونو کې ۱،۲۸۲ تنه طالب العلمان جذب او شامل شوي دي، چې له دغې جملې څخه په لومړۍ ټولګۍ کې 439  تنه طالب العلمان جذب شوي دی، د ۱-۳ ټولګیو پورې 112 تنه، ۴-٦ ټولګیو پورې 97 تنه، د ۷-۹ ټولګیو پورې 149 تنه، د ۱۰-۱۱ ټولګیو پورې 138 تنه او د ۱۲-۱۴ ټولګیو پورې 347 تنه طالب العلمان شامل شوي دي. چې په دې سره بې برخې لویان او ماشومان له زده کړو برخمن شول.

#### 1.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو په مبیت(لیلیه) کې جذب شوي طالب العلمان

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د ۱٦ بابه مدرسو اړوند لیلیو په کچه، ۲،۳۷۷ تنه طالب العلمان جذب شوي دي. چې په دې سره بې وزلو طالب العمانو ته د زده کړې زمینه برابره شوې ده.

**1.1.2 لومړیتوب: د قران کریم د سیالیو په لاره اچول**

#### 2.1 فعالیت: د ولایت په کچه د قران کریم د سیالیو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له لوري  په شیګل ولسوالۍ کې د ۷ بابه دیني مدرسو ترمنځ یوه د قرانکریم سیالي په لاره اچول شوې ده، چې ۴۸ تنه د قرانکریم حافظانو په کې ګډون کړی وو، په یاده سیالۍ کې لومړی، دویم او دریم مقام ګټونکي په جایزو وستاییل‌وري .

1.1.3 لومړیتوب: د علمي سیالیو په لاره اچول

3.1 فعالیت: د دارالعلومونو او مدرسو د طالب العلمانو ترمنځ د علمي سیالیو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، دکونړ پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو امریت له لوري  او همدارنګه د پوهنې وزارت د دارالعلومونو عمومي رئیس په لارښوونه د ۱۶ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه، د ۲۰ بابه دیني مدرسو او یو باب دارالحفاظ اړوند د ۴۴۸ طالب العلمانو تر منځ د اسعد آباد ښار اړوند په سالار باغ کې علمي سیالي په لاره اچول شوې، چې لومړي، دویم او دریم مقام ګټونکو ته لپټاپ او کمپیوټر او د څلورم څخه تر لسم مقام ګټونکي ته الکترونیکي قلم لرونکي قرانکریمونه ورکړل شوي دي.

همدارنګه د دریو ولسوالیو (اسعداباد، وټه پور او سرکاڼو) پوهنې امریتونو اړوند ۱۳ بابه دیني مدرسو تر منځ د الحق المبین له کتاب څخه علمي سیالۍ په لاره اچول شوې وه چې ۱۹۵ تنه طالب العلمانو په کې ګډون کړی و، چې په دې سره د طالب العلمان د زده کړو کیفیت لوړ شوی، د زده کوونکو هڅونه زیاته شوې  او د استعدادونو ودې ته زمینه برابره شوې ده.

1.1.4 لومړیتوب: د شهادت نامو وېش

4.1 فعالیت: د ثانوي او مافوق ثانوي دورو له طالب العلمانو څخه ازموینه اخیستل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې د کونړ ولایت ۱۲۱ تنه د ثانوي او مافوق ثانوي دورو له طالب العلمانو څخه په ننګرهار ولایت کې د پوهنې وزارت له لوري  یوه د کانکور ازموینه اخیستل شوې ده.

4.2 فعالیت: د حفظ او خامسه دورې فارغانو ته د فراغت د سندونو وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا په ۱٦ ولسوالیو کې د حفظ او خامسې 716 تنه فارغانو ته د فراغت سندونه ویشل شوي دي چې له دغې جملې څخه 516 تنه یې د قرانکریم حافظان او پاتې 200 تنه یې دخامسه دورې فارغ طالب العلمان وو.

1.1.5 لومړیتوب: د شهادت نامو چاپ او وېش

5.1 فعالیت: د عالیه دورې د شهادت نامو چاپ او وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو امریت له لوري د ۱٦ ولسوالیو اړوند 273 تنه د عالیه دورې فارغ علماءکرامو ته 273 قطعې شهادتنامې چاپ او ویشل شوې دي، چې په دې سره نوموړي کسان په رسمي توګه د تصدیق پاڼو له حقونو څخه برخمن شوي دي.

### 1.2 مدرسې / ښوونکې/ښوونکی

1.2.1 لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

1.1 فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او مدرسو ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لاربنود د تطبیق په موخه، د پوهنې ریاست مرکزي هستې د مسلکي پراختیا غړو او د ۱٦ ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د ۳۲۲ بابه دیني مدرسو ته د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لاربنود د تطبیق په اړه اړینې لاربښوونې ترسره شوې دي.

1.2 فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او دارالعلومونو او مدرسو ښوونیزو مرکزونو ته لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لاربنود د تطبیق په موخه، د پوهنې ریاست ۷ تنه د اسلامي زده کړو مسلکي پراختیا غړو، د ۱٦ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو، ۴ بابه دارالعلومونو او ۳۲۲ بابه دیني مدرسو ته د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لاربنود د تطبیق په اړه اړینې لاربښوونې ترسره شوې دي.

<u>1.2.2 لومړیتوب: لومړۍ دورې/ اصول صنفي لپاره د مناسبو ښوونکو د ګمارلو لپاره لازمو تدبیرونه نیول</u>

2.1 فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو مدرسو ته لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د لومړۍ دورې/ اصول صنفي لپاره د مناسبو ښوونکو د ګمارلو لپاره په پوهنې ریاست کې ۷ تنه مسلکي پراختیا غړو او د ۱٦ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو د ۴ تنه مسلکي پراختیا مدرسینو ته د ۳۲۰ بابه دیني مدرسو په کچه د لومړۍ دورې لپاره د وړ ښوونکو د توظیفولو په اړه اړینې لاربښوونې ترسره شوې دي.

2.2 فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو دارالعلومونو او مدرسو ته لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د لومړۍ دورې/ اصول صنفي لپاره د وړ ښوونکو د ګمارلو لپاره په پوهنې ریاست کې ۷ تنه مسلکي پراختیا غړو ته، د ۱٦ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو د ۴ تنه مسلکي پراختیا غړو ته د ۴ بابه دارالعلومونو ۳۲۰ دیني مدرسو په کچه د لومړۍ دورې لپاره د وړ ښوونکو د توظیفولو په اړه اړینې لاربښوونې ترسره شوې دي.

<u>1.2.3 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو په تشو بستونو کې د رشتې سره سم د مسلکي مدرسینو په وخت ګمارل</u>

3.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې د رشتې سره سم د مسلکي مدرسینو د ګمارنې په منظور د کړنلارې سره سمې ازموینې اخیستل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت ته چې کوم تش بستونه ورکړل شوي، د وزارت له لوري  تنقیص شوي دي؛ د تشو بستونو د نه شتون له امله د مسلکي مدرسینو څخه ازموینه نه ده اخیستل شوې.

<u>1.2.4 لومړیتوب: د علمي کادر اجرا کول</u>

4.1 فعالیت: د دارالعلومونو د ښوونکو د علمي رتبې او علمي کادر جرا کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د دارالعلومونو د ښوونکو علمي کادر اجراء کول د پوهنې وزارت مقام له خوا بند دی او تر اوسه پورې یې د علمي کادر د اجراء لارښوونه نه ده کړې.

**1.2.5 لومړیتوب: د غیر مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او مدیرانو د وړتیاوو لوړول او مسلکي پراختیا**

5.1 فعالیت: په دارالحفاظونو او هغه مدرسو کې چې د حفظ د شعبو لرونکې دي د حفظ د ښوونکو لپاره د سمینار وړاندې کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په دارالحفاظونو او هغه مدرسو کې چې د حفظ شعبې لري د وزارت مقام له لوري د ښوونیز او روزنیز سمینار د دایریدو په اړه لارښوونې او زمینه نه ده مساعده شوې.

**1.2.6 لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول**

6.1 فعالیت: د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د مرکزي پراختیا امریت له لوري د دې ریاست اړوند د مرکزي هستې د مدرسینو د مسلکي پراختیا ٦ تنه غړو او د ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا ۴ تنه غړو ته میتودیک ورکشاپ ورکړل شوی، چې په دې سره د مدرسینو وړتیاوې لوړې شوي او د زده کړو کیفیت په ټولیزه توګه ښه شوی دی.

**1.2.7 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په ښوونیزو مرکزونو کې د مدرسینو او ښوونکو د ارزونې څېړنه**

7.1 فعالیت: په ولایتونو او ولسوالیوکې د مسلکي پراختیا د غړو په واسطه د مدرسینو له ارزونې بررسي کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د ۱٦ ولسوالیو د مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د 80 تنه ښوونکو ارزونه ترسره شوې ده؛ چې په دې سره د ښوونې او روزنې کیفیت ښه شوی دی او همدارنګه د ښوونکو علمي، عملي او تدریسي وړتیاوې پیژندل شوې، کمزورتیاوې یې معلومې شوي.

**1.2.8 لومړیتوب: له ولایتونو څخه د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه**

8.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا د غړو د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د ۱٦ ولسوالیو د مسلکي پراختیا علمي غړو میاشتني او ربعوار راپورونه پوهنې ریاست ته رارسیدلي او د مرکزي هستي علمي غړو لخوا تحلیل او توحید شوي او وزارت مقام ته استول شوي دي.چې په دې سره د ښوونې او روزنې ستونزې، ننګونې، فرصتونه او پرمختګونه په دقیق ډول پیژندل شوي دي.

## 1.3 نصاب

**1.3.1 لومړیتوب: د مرکز، ولایت او ولسوالی په کچه د ښوونیزکال له پیل مخکې د ښوونیزو مرکزونو د اداري کتابونو ویش**

1.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ۸ عنوانه لیکل شویو کتابونو په اړه تشریحي او لارښوونیزې برنامې د وزارت مقام له لوري په لاره نه دي اچول شوي.

**1.3.2 لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب مطابق د اسلامي زده‌کړو معینیت د ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل**

2.1 فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب سره سم د درسي کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د دیني مدرسو لپاره کوم ځانګړی نصاب نه دی چاپ شوی او همدارنګه د وزارت مقام له لوري د دیني مدرسو لپاره درسي کتابونه نه دي رالېږل شوي.

## 1.4 ښوونیزه ارزونه

**1.4.1 لومړیتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سويې تثبیتول**

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم او څوارلسم ټولګیو علمای کرامو د سويې تثبیتول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کونړ د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو امریت په همکاری، د پوهنې وزارت له لوري د علمای کرامو څخه د دولسم او څوارلسم ټولګیو د سويې د تثبیت په موخه ازموینه اخېستل شوې ده، چې په پایله کې د ۱۸۵ تنه علمای کرامو د دولسم ټولګیو سندونه او همدارنګه د ۳۵ تنه علمای کرامو د څوارلسم ټولګیو سندونه تثبیت شوي دي.

**1.4.2 لومړیتوب: د ولایتونو په کچه د ګډې ازموینې اخیستل**

2.1 فعالیت: د ثانویه دورې ( ثالثه، رابعه او خامسه ) درجو ګډه ازموینه اخیستل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو امریت له لوري د ۱۸۷ تنه طالب العلمانو څخه د ثانویه دورې ګډه ازموینه اخېستل شوې ده.

2.2 فعالیت: د فوق ثانویه دورې (سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموینه اخیستل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو امریت له لورې۲۱۹ تنه طالب العلمانو څخه د مافوق ثانویې دورې ګډه ازموینه اخېستل شوې ده.

## 1.5 ښوونیز چاپېریال

**1.5.1 لومړیتوب: په مرکز او ولایتونوکې د مدرسو رامنځته کول**

1.1 فعالیت: د نارینه طالب العلمانو لپاره د دیني مدرسو جوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د نارینه طالب العلمانو لپاره نوې دیني مدرسې نه دي تأسیس شوې، ځکه چې وزارت مقام له لوري یې د جوړیدو حکم نه دی شوی.

**1.5.2 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعیت بدلون او مُبیت رامنځته کول**

2.1 فعالیت: په ۳۴ ولایتونو کې د لیلیو جوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د وزارت مقام له لوري د طالب العلمانو لپاره نوې لیلیې د جوړیدو امر نه دی شوی.

2.2 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د نویو ښوونیزو مرکزونو تأسیسول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د وزارت مقام له لوري د طالب العلمانو لپاره د نويو ښوونيزو مرکزونو د تأسيسولو امر نه دی شوی.

2.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونيزو مرکزونو د نوعیت بدلول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د اسلامي زده‌کړو ښوونيزو مرکزونو د نوعیت بدلون په اړه چا غوښتنه نه ده کړې، له همدې امله یې بدولون نه دی موندلی.

2.4 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونيزو مرکزونو د نوم بدلول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د اسلامي زده‌کړو ښوونيزو مرکزونو د نوم د بدولون په اړه چا مراجعه او غوښتنه  نه ده کړې.

2.5 فعالیت: د اراالعلوم ته د مدرسې لوړول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه، د دارالعلوم د معیارونو نه پوره کېدو له کبله مدرسو؛ دارالعلوم کچې ته ارتقاء نه ده کړې.

2.6 فعالیت: دارالعلوم ته د لوړلو په منظور د مدرسو بررسي کول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه دارالعلوم ته د لوړولو په منظور د مدرسو څېړنه د ارتقاء د معیارونو نه پوره کولو له امله نه ده ترسره شوې.

## 1.6 د ټولنې ګډون

د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هیڅ ډول لومړیتوب یا فعالیت په عملیاتي پلان کې شامل نه دی.

## 1.7 مدیریت

~~1.7.1 لومړیتوب: د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو ازموينه اخیستل~~

1.1 فعالیت: د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو د ازموينې اخیستل

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو ازموينه د پوهنې وزارت د حکم په اساس بنده ده او همدارنګه د پوهنې وزارت له لوري  راکړل شوي تش بستونه ټول تنقیص شوي دي.

~~1.7.2 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونيزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره د بستونو وېش~~

2.1 فعالیت: هغه مرکزونو ته د بستونو لېږد او وېش چې ورته اړتیا لري

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د اسلامي زده کړو امریت اړوند دیني مدارسو ته چې کوم بستونه په واک کې ورکړل شوي وو؛ تنقیص شوي او نوی تشکیل نه دی ورکړل شوی.

~~1.7.3 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونيزو او تحصیلي مرکزونو د تأسیس لپاره د بستونو وېش~~

3.1 فعالیت: نويو تأسیس شوو ښوونيزو مرکزونو ته د بستونو لېږد او وېش

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د اسلامي زده کړو امریت اړوند نوي ښوونيز مرکزونه نه دي تآسیس شوي، له همدې امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

## برنامه 2:ښوونه او روزنه

### 2.1 زده کوونکی

**2.1.1 لومړيتوب: د ټول ګډونه شموليت لپاره عامه پوهاوی او د زده کړو په شرايطو برابرو ماشومانو زده کړه**

1.1 فعاليت: د 1405هـ ل کال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دايرولو په منظور د ولايتونو د پوهنې رياستونو، دولسواليو د پوهنې آمريتونو او ښوونيزو مرکزونو د شوراګانو لاربښوونه؛

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کونړ د پوهنې رياست په کچه د پوهنې رئيس، د ښوونې او روزنې امر، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا علمي غړو او د ولسواليو پوهنې امرينو له لوري د زده کړې په شرايطو برابر ماشومانو د پراخ شموليت او زده کړې په موخه، عامه پوهاوی ترسره شوی دی.

1.2 فعاليت: د مرکز، ولايتونو، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او ښوونيزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي د برنامې تدويرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د زده کړې د شرايطو ور ماشومانو د پراخ شموليت او زده کړې د تشويق په موخه، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا علمي غړو له خوا د ولايت په کچه ۲، د ولسواليو په کچه ۱۵ او په ۴۳۹ بابه ښوونځيو کې د عامه پوهاوي غونډې ترسره شوې دي.

1.3 فعاليت: د ښوونځيو د شوراګانو له کړنو ملاتړيزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د کونړ ولايت اړوند ۴۳٦ بابه ښوونځيو د شوراګانو له کړنو څخه ملاتړيزه څارنه ترسره شوېڅارنه ترسره شوې ده.

1.4 فعاليت: د سړو او تودو سيمو په بېلا بېلو برخو کې د عامه پوهاوي د برنامې دايرول او لارښوونې

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د سړو او تودو سيمو په بېلا بېلو برخو کې د زده‌کړو په شرايطو برابرو ماشومانو د پراخه شموليت او زده‌کړې لپاره د سواد زده کړې مديريت له لوري د ولايت په کچه يوه غونډه او د ولسواليو په کچه دوه د عامه پوهاوي غونډې په منورې او نرنګ ولسواليو کې ترسره شوې دي او د ښوونيزو مرکزونو په کچه د بوديجې د نه شتون له امله د عامه پوهاوی غونډې نه دي ترسره شوي.

1.5 فعاليت: د غږيزو او انځوريزو رسنيو له لارې د عامه پوهاوي پيغامونو خپرول او د تبليغاتي پاڼو او بروشرونو چاپ

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د زده‌کړو په شرايطو برابرو ماشومانو د پراخه شموليت او زده‌کړې لپاره د عامه پوهاوی غږيز او انځوريز پيغامونه د بوديجې د نشتون له امله نه دي خپاره شوي او همدارنګه د وزارت مقام له لوري تبليغاتي پاڼې او برشرونه نه دي چاپ شوي البته په څپه درې، غازي اباد، دانګام، منورې او نرنګ ولسواليو کې د مسجدونو له لارې د عامه پوهاوي ۱۱ پروګرامونه ترسره شوي دي.

**2.1.2 لومړيتوب: د زده کړې په شرايطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځايه شوو د شموليت لپاره د زمينې برابرول**

2.1 فعاليت: د لومړنۍ دورې د جديد الشمولانو جذب

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مديريت له لوري د ۱٦ ولسواليو پوهنې امريتونو په کچه، د سړو او تودو سيمو ښوونځيو په لومړنۍ دوره کې ۱۵،۴۲٦ تنه نوي زده کوونکي جذب شوي دي،چې له دې جملې څخه ۹،۲۲٦ هلکان او ٦،۲۰۰ ښځينه زده کوونکي دي.

2.3 فعالیت: په لومړني، منځنۍ او لېسې دورو کې د ټولګي او سويې د تثبیت ازموينې له لارې د مجاهدينو، راستنېدونکو او همدا رنګه د سوابقو راوړونکو او تر لنډمهاله ښوونو لاندې د جديدالشمولانو جذبول.

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مديريت له خوا د ۱٦ ولسواليو پوهنې امريتونو اړونده ښوونځيو کې د ټولګي او سويې د تثبيت ازموينې له لارې د عمومي زده کړو په بيلابيلو ښوونځيو په لومړۍ دوره کې ۱۳۲ تنه زده کوونکي، په منځنۍ دوره کې ۹۵۰ تنه زده کوونکي او د ليسې په دوره کې ۱،۰۰۸ تنه مجاهدين او راستنېدونکي زده کوونکي جذب شوي دي.

2.4 فعالیت: د کوچیانو د جديدالشمول زده کوونکو جذبول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مديريت له لورې، ۷۰ تنه نوي شامېلدونکي کوچي زده کوونکي په خاص کونړ، سرکانو او نورګل ولسواليو اړونده ښوونځيو کې جذب شوي دي.

2.5 فعالیت: په مرکز او ولايتونو کې د پوهنې د مرسته کوونکو مؤسسو په واسطه له ښوونځي څخه مخکې ښوونو کې د جديدالشمولانو جذبول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د یونیسف نړیوالې مؤسسې له لوري د ښوونځي څخه مخکې ښوونو کې ۳۰۰ تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي.

2.6 فعالیت: له پولې څخه بهر د ښوونيزو اسنادو د نه لرونکو را ستنېدونکو او مجاهدينو د ټولګي تثبيت

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مديريت له لوري له پولې څخه بهر د ښوونيزو اسنادو نه لرونکي 925 تنه راستنېدونکو زده کوونکو سويې تثبيت شوي او د خپلې سويې له مخې ټولګيو ته ورپيژندل شوي دي او د مجاهدينو د ټولګي د تثبيت ازموينې لپاره نوم ليکنه روانه ده چې ترد دمه پورې 190 تنه مجاهدينو نوم ليکنه ترسره کړې ده او په راتلونکي کې به ترې ازموينه واخېستل شي.

<u>2.1.3 لومړيتوب: د زده کړو په شرايطو برابرو لويانو لپاره د شموليت د زمينې برابرول</u>

3.1 فعالیت: د هر ښوونيز مرکز تر پوښښ لاندې سيمه کې د اړوندو مرکزونو په مرسته د ټولو د زده کړو په شرايطو برابرو لويانو لېست برابرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مديريت له لوري د هر ښوونيز مرکز تر پوښښ لاندې په سړو او تودو سيمو اړونده مرکزونو کې د رسمي ښوونکو له لارې ۳،۴۴۷ تنه په شرايطو برابر لويان د سواد زده کړې په کورسونو کې شامل شوي دي.

3.2 فعالیت: د کوچیانو د په شرايطو برابرو لويانو شموليت

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د شرايطو وړ لويانو او کوچيانو د سواد زده کړې کورسونو کې د شاملېدو لپاره د پوهنې وزارت له لوري ځانګړې سهم او بوديجه نه دی ځانګړی شوی.

3.3 فعالیت: د مسجدونو د ملا امامانو له لارې د په شرايطو برابرو لويانو شموليت

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د شرايطو وړ لويانو او کوچيانو د سواد زده کړې کورسونو کې د شاملېدو لپاره د پوهنې وزارت له لوري ځانګړې سهم نه دی ځانګړی شوی.

3.4 فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو، سواد حياتي او حرفوي ښوونځيو کې په شرايطو برابرو لويانو شموليت

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د سواد حیاتي او حرفوي ښوونځیو نه لرو، له همدې امله یاد فعالیت ترسره شوی نه دی.

3.5 فعالیت: د داخلي بېځایه شوو او راستنېدونکو شمولیت

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه یاد فعالیت د بودیجې او ځانګړي سهم د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

2.1.4 لومړیتوب: د روغتیایی مرکزو په مرسته د جدیدالشمولانو د روغتیا په ځانګړې توګه د اورېدلو، لیدلو، ژامو،خولې، غاښونو او ساري ناروغیو د معایناتو څخه ډاډ ترلاسه کول

4.1 فعالیت: دجدیدالشمولانو له روغتیا څخه ډاډ ترلاسه کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د روغتیا مدیریت له خوا د روغتیايي مرکزونو په مرسته د ٦،٢٩٦  تنه جدیدالشمولانو روغتیايي حالت په ځانګړې توګه د اورېدلو، لیدلو، ژامو، خولې، غاښونو او ساري ناروغیو معاینات ترسره شوي دي.

2.1.5 لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیو کې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو چینجیو د له منځه وړلو سراسري کمپاین

5.1 فعالیت :د روغتیايي تبلیغاتي موادو، حفظ‌الصحې، نظافت کیټونو او لومړنیو مرستو توکو وېش.

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د وزارت او هم کومې مرستندویه مؤسسې له لوري روغتیايي تبلیغاتي مواد او حفظ‌الصحې کیټونه نه دي ځانګړي شوي.

5.2 فعالیت: د ښوونځیو په کچه ټولو زده‌کوونکو ته د کولمو د چینجیو ضد ټابلیټو وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړونده ښوونځیو زده کوونکو لپاره د کولمو د چېنجیو ضد ټابلیټونو د ویش لړۍ په میزان میاشت کې پلان شوې وه خو تراوسه پورې د وزارت مقام له لوري  د کولمو د چنجیو ضد ټابلیټونه؛ نه دي راستول شوي.

2.1.6 لومړیتوب: د ښوونځیو په کچه د سیالیو په لاره اچول او د ورزشي څېرو پېژندل

6.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د غوره ټیمونو د ټاکلو په موخه په ښوونځیو کې د بهاري او خزاني مناسبتي او دوستانه سیالیو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د بدني رزونې مدیریت له خوا د اسعد اباد ښار او د منورې ولسوالۍ پوهنې امریتونو اړونده  ښوونځیو کې د غوره لوبډلو د ټاکلو په موخه دوه  ورزشي سیالۍ ترسره شوې دي.

2.1.7 لومړیتوب: په خصوصي ښوونځیو کې د ښوونې او روزنې زمینه برابرول

7.1 فعالیت: د هغه زده‌کوونکو د درې‌کلنو نمرو ترتیبول او ژباړل چې د زده‌کړو د دوام په موخه له هېواد څخه بهر سفر کوي

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کونړ د پوهنې ریاست د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت ته د هغو خصوصي زده‌کوونکو له لوري چې په بهر کې زده کړې کوي، د درې کلنو نمرو د ترتیب او ژباړې په موخه هېڅ مراجعه نه ده شوې.

7.2 فعالیت: د اړوندو قوانینو او لارښودونو سره سم د خصوصي زده‌کړو د زده‌کوونکو د تصدیق پاڼو اجرا کول.

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د خصوصي زده کړو زده کوونکو د تصدیق پاڼو اخېستلو لپاره چا مراجعه نه ده کړې.

7.3 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د شهیدانو او معلولینو ورثه‌وو، یتیمو او بېوزله ماشومانو د فیس د تخفیف اجرا کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې 29 تنه د شهیدانو او معلولینو ورثه وو، یتیمو او بېوزلو زده کوونکو ته په فیس کې تخفیف اجراء شوی دی.

<u>2.1.8 لومړیتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د علمي المپیادونو(سیالیو) او علمي پروژو دایرول</u>

8.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د علمي سیالیو لارښود د وزارت مقام له لوري پوهنې ریاست ته راستول شوی او په اړه یې اړینې لارښوونې شوې دي.

8.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د علمي سیالیو لارښود ۱٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو ته استول شوی او په اړه یې ورته اړینې لارښوونې شوې دي.

8.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ۹۵ بابه لیسو او ۱۰۴ بابه متوسطو دورو ښوونځیو ته د علمي پروژو د دایریدو په اړه اړینې لارښوونې شوې دي.

8.4 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي المپیادونو (سیالیو) او علمي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ۵۴ بابه لیسو او ۲۴ بابه متوسطو زده‌کوونکو ترمنځ د ساینس په برخه علمي پروژې دایر شوې دي چې د ښوونیزو مرکزونو څخه د ولسوالۍ په کچه یوه علمي پروژه انتخاب شوې ده.

8.5 فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د علمي المپادونو او علمي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند  د ۱٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو څخه یوه علمي پروژه انتخاب شوې ده

8.6 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د علمي المپیادونو او علمي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې ریاست په کچه د ساینس مدیریت له لوري  د ۱٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو ترمنځ یوه علمي سیالۍ ترسره شوې ده چې په پایله کې د وټه پور پوهنې امریت د لرگیو اره کولو د ماشین علمي پروژه غوره بلل شوې او پوهنې وزارت اړوند ساینس ریاست ته رسماً استول شوې ده.

## 2.2 ښوونکی

<u>2.2.1 لومړیتوب: د ورسپارل شوو دندو پرمخ وړلو په منظور د ساینس مرکز د مرکزي او ولایتي علمي غړو روزنه</u>

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، د کونړ د پوهنې ریاست اړوند د ساینس مدیریت ۳ تنه علمي غړي د پوهنې وزارت د ساینس ریاست له لوري په پنځه ورځني ورکشاپ کې روزل شوي دي.

2.2.2 لومړیتوب: د رشتې خلاف او غیر مسلکي ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

2.1 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکي جوړونې یو کلنې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کونړ د پوهنې ریاست اړوند د ١٦ ولسوالیو په کچه، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د رشتې خلاف ښوونکو لپاره د مسلکي ودې په موخه زده کړه ییزې حلقې جوړې شوې، چې له دغه زده کړه ییزو حلقو څخه ۴۷۳ تنه خلاف‌رشته ښوونکو ترې ګټه اخېستې ده.

2.2 فعالیت: د رشتې خلاف او غیرمسلکي ښوونکو او ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابرانټانو د وړتیا لوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ساینس مدیریت علمي غړو له لوري ۳۰ تنه خلاف رشته ښوونکي په څوکۍ، خاص کونړ، او نورګل ولسوالیو کې روزل شوي دي.

2.2.3 لومړیتوب: د ساینس، ریاضیاتو اوکمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابرانټانو وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

3.1 فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابرانټانو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کونړ د پوهنې ریاست په کچه د ساینس مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د لابراتوارونو د لیدنو پر مهال ۱۱۰ تنه ښوونکي په اسعداباد، منوره، نرنګ، وټه پور، شیګل او شلتن ولسوالیو کې په انفرادي ډول روزل شوي، چې له امله یې ښوونکو د خپلو مضامینو د تدریس نوې او مؤثرې طریقې زده کړې، د لابراتوار کارکوونکي د وسایلو او تجربو سره ښه بلد شوي.

2.2.4 لومړیتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو حلولو لپاره د تدبیرونو نیول

4.1 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندلو په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ١٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه ۴۷۳ تنه د رشتې خلاف ښوونکي د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري تشخیص شوي دي چې د ستونزو د حل په موخه ورته زده کړه ییزې حلقې جوړې شوې دي.

4.2 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو پېژندل او معلوماتو راټولول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ١٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه ۴۷۳ تنه د رشتې خلاف ښوونکي د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري پیژندل شوي او معلومات یې راټول شوي دي چې د ستونزو د حل په موخه ورته زده کړه ییزې حلقې جوړې شوې دي.

2.2.5 لومړیتوب: د موجودو مدرسانو، ښوونکو او ښوونکو د رشتې سره سم توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول

5.1 فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیف د لارښود د تطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو کارکوونکو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ښوونکو د رزونې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د اړوند ۱٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه، د ۴۳۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځیو ۳۰۳۸ تنه د رشتې موافق ښوونکو پیژندل شوي دي چې په هرې ولسوالۍ کې ورته زده کړه ییزې حلقې جوړې شوي دي.

5.2 فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیف د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ښوونکو د رزونې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د اړوند ۱٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه، د ۴۳۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځیو ۳۰۳۸ تنه د رشتې موافق ښوونکو پیژندل شوي دي چې په هرې ولسوالۍ کې ورته زده کړه ییزې حلقې جوړې شوي دي او د رشتوي مضمونو مطابق د تدریس چارې پرمخ وړي، البته د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیف لارښود د وزارت له لوري د دې ریاست سره نه دی شریک شوی.

<u>2.2.6 لومړیتوب: د اصولو صنفي لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول</u>

6.1 فعالیت: د جوړ شوي لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو پوهنې ریاستونو، ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د اصول صنفي دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف لپاره لازم تدبیرونه او همدارنګه د لارښود د تطبیق لپاره اړینې لارښوونې د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې ریاست له لوري نه دي نیول شوي البته د ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا په سړو او تودو سیمو ۲۴۰ بابه ابتدائیه ښوونځیو کې د اصول صنفي دورې لپاره مناسب ښوونکي انتخاب شوي دي.

6.2 فعالیت: د صنفي اصولو دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د اصول صنفي دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د ۲۴۰ بابه ابتدائیه ښوونځیو څخه ملاتړیزه څارنه ترسر شوې ده.

<u>2.2.7 لومړیتوب: په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا د غړو د ګمارنې بشپړول او هغوی ته د د ورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو لارښوونه کول</u>

7.1 فعالیت: دولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا د غړو د ګمارنې بشپړول

د ۱۴۰۴ کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا ۷ تنه علمي غړي چې یو یې د انګلیسي او ٦ تنه نور د دري ژبې د رشتې غړي چې د کانکور ازموینې له لارې بریالي ښودل شوي وو، په بیلابیلو ولسوالیو کې په دندو ګمارل شوي دي.

7.2 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د دندو د چوکاټ، دندو لایحو، څارنیزو وسیلو، دافکارو د روښانه کولو او مسؤلیت منلې په اړه د معرفتي او لارښودیزې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه ۲۵ تنه د مسلکي پراختیا غړو ته د دندو د چوکاټ، دندو لایحو، څارنیزو وسیلو، د افکارو د روښانه کولو او مسؤلیت منښې په اړه په ننگرهار ولایت کې د یونیسف مؤسسې په مالي ملاتړ شپږ ورځنۍ ورکشاپ د ښوونکو د روزنې ریاست له لوري ورکړل شوی دی.

7.3 فعالیت: د مرکزي هستې او ولایتونو د علمي غړو لپاره د ښوونیز ترینګ دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونکو د روزنې اومسلکي پراختیا ۱۳ تنه علمي غړو ته په ننگرهار ولایت کې ۹ ورزنۍ ورکشاپ د یونیسف په مالي لګښت د اغیزمنې زده کړې تر عنوان لاندې د ښوونکو د روزنې ریاست له لوري ورکړل شویدی.

2.2.8 لومړیتوب: د ښوونځیو د شورا د غړو لپاره د وړتیا لوړونې برنامو دایرول

8.1 فعالیت: د شوراگانو د ښوونیزې اداري د علمي غړو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه، د یونیسف په مالي لګښت د ښوونکو د روزنې ریاست لخوا د ١٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو اړوند ۱۵ تنه د شوراگانو د ښوونیزې اداري علمي غړو ته د مدیریت، شوراگانو او د ښوونکو د روزنې په برخه کې نهه ورځنۍ ورکشاپ د ورکړل شوی دی.

8.2 فعالیت: د ښوونځیو د شورا د غړو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري او د یونیسف مؤسسې په مالي لګښت په اسعداباد ښار کې د ١٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو اړوند د ښوونځیو د شوراگانو ۸۰۰ تنه غړو ته دوه ورځنۍ ورکشاپ د اغیزمنې زده کړې تر عنوان لاندې لوري ورکړل شوی دی.

2.2.9 لومړیتوب: د نویو گمارل شوو ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

9.3 فعالیت: د نویو گمارل شوو ښوونکو لپاره د وړتیا لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لوري د نویو گمارل شوو ښوونکو لپاره د وړتیا لوړونې ښوونیزې برنامې نه دي دایر شوې.

9.4 فعالیت: د نویو گمارل شوو سرښوونکو او مدیرانو لپاره د وړتیا لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لوري د نویو گمارل شوو سرښوونکو او مدیرانو لپاره د وړتیا لوړونې ښوونیزې برنامې نه دي دایر شوې.

2.2.10 لومړیتوب: د ښوونکو، زده‌کوونکو او کارکوونکو لپاره د وړتیا لوړونې زمینې برابرول

10.1 فعالیت: د ښوونکو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه ۲۷۱ تنه ښوونکو ته د پولیک اسید په برخه کې دوه ورځنۍ او د تراکما په برخه کې درې ورځنۍ ورکشاپ د ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسې او همدارنگه د هیلت نیټ مؤسسې له لوري ورکړل شوی دی.

10.2 فعالیت: د روغتیا مدیرانو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند یو تن د روغتیا مدیر ته د پولیک اسید په برخه کې دوه ورځنۍ او د تراکما په برخه کې درې ورځنۍ ورکشاپ د ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسې او همدارنگه د هیلت نیټ مؤسسې له لوري په اسعداباد ښار کې ورکړل شوی دی.

**2.2.11 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې ته د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د سیمې د خلکو همکاري**

11.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونکي د کموالي د رفع کولو لپاره د سیمې د خلکو په واسطه د غیر رسمي ښوونکو ګمارل او افتخاري تدریس

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونکي د کموالي د رفع کولو لپاره د سیمې د خلکو په واسطه د غیر رسمي ښوونکو په افتخاري توګه د تدریس لپاره تر دې دمه هیڅا همکاري نه ده کړې.

## 2.3 نصاب

**2.3.1 لومړیتوب: د اړوند مضمونونو په زده‌کړه کې د سیمه‌ایزو عیني تجربو او موادو څخه د ګټې اخیستل ترویجول**

1.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ساینس مرکزونو علمي غړو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ساینس مدیریت ۸ تنه علمي غړو ته د اړوند مضمونونو په زده‌کړه کې د سیمه‌ایزو عیني تجربو او موادو څخه د ګټې اخېستنې دودولو لپاره په څلورو ورقو کې ترتیب شوې مسودې(رهنمود استفاده از مواد محیطي در اموزش مضامین ساینس و ریاضیات ) د تطبیق په اړه د وزارت مقام له لوري لارښوونې ترسره شوې دي البته دغه لارښود د وزارت له لوري په رسمي ډول نه دی راستول شوی.

1.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ساینس مدیریت علمي غړو له لوري په څلورو ورقو کې ترتیب شوې مسودې(رهنمود استفاده از مواد محیطي در اموزش مضامین ساینس و ریاضیات) د تطبیق په اړه ۱۶ ولسوالیو پوهنې امریتونو ته لارښوونې ترسره شوې دي.

1.3 فعالیت: رهنمود د لارښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ساینس مدیریت او د ولسوالیو علمي غړو له لوري په څلورو ورقو کې ترتیب شوې مسودې(رهنمود استفاده از مواد محیطي در اموزش مضامین ساینس و ریاضیات ) د تطبیق په اړه ۱۹۹ بابه ښوونیز مرکزونو ته لارښوونې ترسره شوې دي.

**2.3.2 لومړیتوب: د ښوونیز نصاب سره سم د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو بیا کتل او وېش یې**

2.1 فعالیت: د ښوونکو او دارالعلومونو د مدرسینو لپاره له ۴ څخه تر ۱۲ ټولګي پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونکو او دارالعلومونو د مدرسینو لپاره د ۴ څخه تر ۱۲ ټولګي پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ۱۶۸ ټوکه د تجربو لارښود کتابونه، د ساینس مدیریت له خوا ۲۵ بابه ښوونځیو ته ویشل شوي دي.

2.3.3 لومړیتوب: درسي مرستندویه موادو ( د ریاضي، بیولوژي کیټونو، ښوونیزو چارټونو او ویډیوګانو) ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي زمینه برابرول

3.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه د ولسوالیو/ ښوونیزو حوزو د پوهنې آمریتونو ته د مرستندویه درسي موادو لیږدول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست له خوا ۸ ولسوالیو پوهنې امریتونو ته د خدماتو مدیریت په همکارۍ ۲۳ د ریاضي کیټونه، ۳ د بیولوژي کیټونه او ۴۶۱ رنګه چارټونه ویشل شوي دي.

3.2 فعالیت: د ولسوالیو/ښوونیزو حوزو د پوهنې آمریتونو څخه ښوونیزو مرکزونو ته د مرستندویه درسي موادو لیږدول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست له خوا ۸ ولسوالیو پوهنې امریتونو ته د خدماتو مدیریت په همکارۍ ۲۳ د ریاضي کیټونه، ۳ د بیولوژي کیټونه او ۴۶۱ رنګه چارټونه ویشل شوي دي.

3.3 فعالیت: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د مرستندویه درسي موادو ویش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د ساینس مدیریت له لوري او د خدماتو مدیریت په همکارۍ د ولسوالیو پوهنې امریتونو اړوند ۲۳ ښوونیزو مرکزونو ۵،۴۶۲ تنو زده‌کوونکو ته مرستندویه درسي مواد ویشل شوي دي.

2.3.4 لومړیتوب : د کمبودو کتابونو چاپ او د اصولو صنفي دورې ته يې په متوازن ډول ویش په ځانګړې توګه اساسي مضمونونه

4.1 فعالیت: د درسي کتابونو د کمبود د رفع کولو په اړه د مرکز او ولایتي ریاستونو او ښکېلو اړخونو سره همغږي او اړتیا سنجونه

د د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د کتابونو د ویش مدیریت له خوا د ټولو ولسوالیو پوهنې امریتونو سره په همغږۍ، په عمومي زده کړو ښوونځیو کې ۸۴۸٬۵۶۶ او په اسلامي زده کړو مرکزونو کې ۱٬۵۹۸٬۳۴۲ ټوکه درسي کتابونو ته د اړتیا راپور ترتیب او د پوهنې وزارت سره رسمي توګه شریک شوی دی.

2.3.5 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د بدني روزنې د ودې او پراختیا په منظور د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب ویشل

5.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب ویشل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د بدني روزنې مدیریت له لوري ۱٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو ته ۳۰۰ ټوکه د بدني روزنې د ښوونکو د تدریس لارښود کتابونه ویشل شوي دي چې امله يې د بدني روزنې د مضمون د تدریس کیفیت ښه شوي او همدارنګه د ښوونکو مسلکي وړتیا لوړه شوې ده.

2.3.6 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونه

6.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونو اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د سواد زده کړې مدیریت له لوري د ۱٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د سواد زده کړې د کورسونو د کتابونو اړتیاوې سنجول شوي چې؛ ۴۰،۰۰۰ سېټه د سواد زده کړې کتابونو ته اړتیا لیدل کیږي.

### 2.4 ښوونیزه ارزونه

**د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې کوم فعالیت او یا هم اولویت په دې برخه کې شامل نه ده.**

### 2.5 ښوونیز چاپېریال

**2.5.1 لومړیتوب: په ښوونیزو مرکزونو کې د لابراتوارونو او کمپیټر لبونو جوړول او تجهیزول**

**1.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د لابراتوارونو د جوړولو او تجهیز په منظور اړتیا سنجونه**

**د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د ولسوالیو پوهنې امریتونو اړوند ۲۵ بابه ښوونیزو مرکزونو کې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د لابراتوارونو د جوړولو او تجهیز په منظور اړتیاوې سنجول شوې دي.**

**1.2 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د لابراتوارونو جوړول**

**د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د بودیجې نشتون له امله د ښوونیزو مرکزونو لپاره لابراتوارونه نه دي جوړ شوي.**

**1.3 فعالیت: په سامانونو او لابراتواري موادو د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو تجهیزول**

**د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ساینس مدیریت له لوري په غازي اباد، نورګل، نرنګ، خوکی، سرکاڼو، خاص کونړ، اسمار او اسعداباد کې ۱۴ بابه لابراتوارونه په اضافه تشخیص شوو لابراتواري موادو څخه تجهیز شوي دي او همدارنګه یو باب کمپیوټر لیب په اسمار ولسوالی کې د پنځه پایه تشخیص شوي کمپیوټرونو څخه تجهیز شوی دی.**

**2.5.2 لومړیتوب: د ادارو په ډیپوګانو کې د ګټې اخیستنې وړ منابعو ( درسي کتابونه، میز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه، فرش او خیمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري موادو) پېژندل او د هغې متوازن وېش**

**2.1 فعالیت: د اړوندو ادارو په ډیپوګانو کې د وسایلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو پېژندل او په ښوونیزو مرکزونو کې د ګټې اخیستنې لپاره یې متوازن وېش**

**د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند  د ساینس مدیریت له لوري  د ولسوالیو پوهنې امریتونو او ښوونځیو په ډیپوګانو کې ۱۰۸٦ قلمه مواد اضافه پیژندل شویدي چې له دغې جملې څخه ۸۸۵ قلمه مواد د کیمیا،  ۱۸۲ قلمه مواد د فزیک، ۱۷ قلمه د بیولوژۍ او ۲ قلمه د ریاضي په برخه کې اضافه پیژندل شوي دي؛  چې دغه راټول شوي مواد بیرته ۱۲ بابه ښوونځیو ته د ګټې اخیستنې په موخه په متوازنه توګه ویشل شوي دي.**

**2.5.3 لومړیتوب: د بې ښوونکو ټولګیو لپاره لازم تدبیرونه نیول**

**3.1 فعالیت: د بې ښوونکي درسي ټولګیو پېژندل**

**د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري  د عمومي زده کړو په ۴۳۹ بابه ښوونځیوکې چې ټول یې ۳،۷۵۷ ټولګی لري، چې له دغې جملې څخه ۱،۳۷۴ بابه بې ښوونکي درسي ټولګي پیژندل شوي دي.**

**3.2 فعالیت: د هغه ښوونیزو مرکزونو پېژندل چې پر ښوونکي یې د زده کوونکي نسبت د ټاکل شوي نورم نه ټیټ وي**

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا په ټولو ولسوالیو کې د ښوونکو د کمښت احصائیه راټوله شوې، چې ۲۷٦ بابه ټولګیو اړوند۹،۳۷۲ تنه زده کوونکي؛ د ټاکل شوي نورم مطابق ښوونکي نه لري.

3.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لوري د لارښود د تطبیق لپاره اړینې لارښوونې نه دي ترسره شوي.

3.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لوري د لارښود د تطبیق لپاره اړینې لارښوونې نه دي ترسره شوي

3.5 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د پوهنې وزارت له لوري لارښود نه دی راستول شوي

3.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لارښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د پوهنې وزارت له لوري لارښود نه دی راستول شوي

3.7 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو د راپور له وړاندې کولو څخه وروسته د بې له ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د برابرولو په موخه د کارکوونکو چارو له عمومي ریاست سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ښوونکو د مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د ولسوالیو څخه د راټولو شویو راپورونو څخه وروسته د ۲۲۰ بابه ټولګیو لپاره خدمتي ښوونکي پر دندو ګمارل شویدي او د وزارت سره یې د بې ښوونکو ټولګیو احصائیه او د مسلکي ښوونکو د کمښت ستونزه شریکه شوې ده.

<u>2.5.4 لومړیتوب: په ازاده فضا کې ټولګیو لپاره د لازمو تدبیرونو نیول</u>

4.1 فعالیت: د هغه ښوونځیو پېژندل چې په آزاده فضا کې د ټولګیو لرونکي وي او هغه ټولګي چې په آزاده فضا کې قرار لري

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا په ۱٦ ولسوالیو کې ۲۵۷ بابه ښوونځي پیژندل شوي دي چې ودانۍ نه لري او همدارنګه ۱،۷۱۴ درسي شعبې په ازاده فضاء کې قرار لري.

4.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لوري د لارښود د تطبیق لپاره اړینې لارښوونې نه دي ترسره شوي.

4.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د لارښود د تطبیق لپاره اړینې لارښوونې د وزارت له لوري نه دي ترسره شوي.

4.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د لاربښود د تطبیق لپاره اړینې لاربښوونې د وزارت له لوري نه دي ترسره شوي.

4.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لاربښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست ته د وزارت له لوري لاربښود نه دی راستول شوی.

4.6 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو د راپور له وړاندې کولو څخه وروسته د بې له ودانیو ښوونځیو لپاره د ښوونیزو چاپېریال لګه (خېمه او د ودانیو په کرایه نیول) د برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره همغږي کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو د راپور وړاندې کولو څخه وروسته د ۲۵۷ بابه ښوونځي او ۱،۷۱۴ بابه ټولګي پېژندل شوي دي، چې په ازاده فضاء کې قرار لري، له يادې جملې څخه د ۵۳۷ بابه درسي شعبو لپاره خيمې لګول شوې دي او ۱،۱۱۷ بابه درسي شعبې اوس هم سرپناه نه لري چې د بې سرپناه ټولګيو لپاره د ښوونيز چاپيريال د برابرولو په موخه ديونېسف نړيوالي همکارۍ مؤسسې سره او همدانګه د ښوونکو د مسلکي پراختيا رياست سره همغږي ترسره شوې ده.

<u>2.5.5 لومړيتوب: د اصول صنفي دورې په ځانګړې توګه لومړي ټولګي ته د بهترين ټولګي ځانګړي کولو لپاره لازم تدبيرونه نيول</u>

5.1 فعالیت: د اصول صنفي په دوره کې د ښوونکو د توظيف لاربښود له تطبيق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړيزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د ۱٦ ولسواليو پوهنې امريتونو د ۲۲۷ بابه ابتدائيه ښوونځيو څخه داصول صنفي دورې دښوونکو دتوظيف لاربښود له تطبيق څخه دښوونکو مسلکي پراختيا غړو سل سلنه ملاتړيزې څارنې ترسره کړيدي.

5.2 فعالیت: د لاربښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د اصول صنفي دورې لپاره د ښوونکو د توظیف لاربښود د پوهنې وزارت له لوري نه دی راستول شوی.

5.3 فعالیت: د لاربښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ولسواليو پوهنې امريتونو په کچه د اصول صنفي دورې لپاره د ښوونکو د توظيف لاربښود د پوهنې وزارت له لوري نه دی راستول شوی.

5.4 فعالیت: د لاربښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د اصول صنفي دورې لپاره د ښوونکو د توظیف لاربښود د پوهنې وزارت له لوري نه دی راستول شوی.

5.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لاربښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونیزو مرکزونو د اصول صنفي دورې لپاره د ښوونکو د توظیف لاربښود د پوهنې وزارت له لوري نه دی راستول شوی.

<u>2.5.6 لومړيتوب: د ښوونيز کال له پيل سره د ښوونيزو مرکزونو د ښوونيزو فعاليتونو ( بې له وقفې ) پيلولو لپاره لازم تدبيرونه نيول</u>

6.1 فعالیت: د ښوونیز کال له پیل سره په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونیزو فعالیتونو له پیل څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د ښوونې او روزنې امریت اړوند د ۱٦ ولسوالیو د ښوونکود روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په ۴۳۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځیو کې د ښوونیزو فعالیتونو د پیل له ډاډ په موخه ملاتړیزې څارنې ترسره کړې دي.

6.2 فعالیت: د ښوونیز کال له پیل څخه مخکې د درسي کتابونو او مرستندویه درسي موادو د وېش له پروسې څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د ښوونې او روزنې امریت اړوند د ۱٦ ولسوالیو د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا په ۴۳۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځیو کې د ښوونیز کال له پیل څخه مخکې د درسي کتابونو او مرستندویه درسي موادو د وېش له پروسې څخه ملاتړیزه څارنه تر سره شوې ده.

6.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د وزارت له لوري د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونې نه دي ترسره شوې.

6.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د وزارت له لوري لارښود نه دی راستول شوی.

6.5 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د وزارت له لوري لارښود نه دی راستول شوی.

6.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو د لارښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د وزارت له لوري لارښود نه دی راستول شوی.

2.5.7 لومړیتوب: حد اکثر په دوو وختونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لپاره د لازمو تدبیرونو نیول

7.1 فعالیت: د هغه ښوونځیو پېژندل چې له دوو څخه د زیاتو درسي وختونو لرونکي دي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا په ټولو ولسوالیو کې ۲۹ بابه ښوونځي له دوو څخه د زیاتو درسي وختونو لرونکي دي او همدارنګه ۴۱۰ بابه یو شفټ لرونکي ښوونځي پیژندل شوي دي.

7.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د وزارت له لوري د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونې نه دي ترسره شوې.

7.3 فعالیت: دلارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د وزارت له لوري لارښود نه دی راستول شوی.

7.4 فعالیت: دلارښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د وزارت له لوري لارښود نه دی راستول شوی

7.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لارښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د وزارت له لوري لارښود نه دی راستول شوی.

~~2.5.8 لومړیتوب: د کرِنلارې سره سم د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې د رشتې سره سم له مسلکي مدرسییونو څخه د ازموینې اخیستل~~

8.1 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د نویو جوړ شوو ښوونځیو ایجادول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د تشکیل نشتون له امله نوی ښوونځی نه دی ایجاد شوی.

8.2 فعالیت: د هغه کلیو او سیمو تشخیصول چې ماشومان یې د واټن او نورو جغرافیایي ستونزو له امله له زده‌کړو بې برخې پاتې دي او د هغوی لپاره د بدیلو خدمتونو برابرول

یاد فعالیت د ۱۴۰۴ کال په عملیاتي پلان کې شامل نه وه، له همدې امله ترسره شوی نه دی.د دې ریاست

8.3 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د دولتي او خصوصي ښوونځیو او کورسونو د نوم بدلون

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د دولتي او خصوصي ښوونځیو او همدارنګه د کورسونو د نوم بدلون لپاره چا مراجعه نه ده کړې.

8.4 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د خصوصي ښوونیزو مرکزونو (ښوونځیو او کورسونو) د نوم تاییدول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د خصوصي ښوونیزو مرکزونو (ښوونځیو او کورسونو) د نوم تاییدولو لپاره چا مراجعه نه ده کړې.

8.5 فعالیت: د ښوونکو د مسلکي پراختیا غږو له راپور څخه وروسته د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تآسیس د کرِنلارې او اساسي او ثانوي زده‌کړو لایحې د شرایطو د نه بشپړولو په صورت کې د دولتي ښوونځیو د درسي شعبو ادغامول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت ته د ښوونیزو مرکزونو د درسي شعبو د ادغامولو په اړه راپور نه دی راستول شوی.

8.6 فعالیت: د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تآسیس او ارتقاء د کرِنلارې د شرایطو د نه بشپړولو په صورت کې د دولتي ښوونځیو ادغامول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ۱٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو له لوري  د دولتي ښوونځیو د ادغامولو په اړه چا مراجعه نه ده کړې.

8.7 فعالیت: د ولایتونو په کچه د اقلیم تغیر شوو ښوونځیو ثبت او تایید

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري د اسعداباد ښار اړوند ۳۴ بابه ښوونځیو او همدارنگه د خاص کونړ پوهنې امریت اړوند د یو باب ښوونځي اقلیم له سړې څخه گرم ته بدل شوی.

8.8 فعالیت: د یوې ولسوالۍ/ښوونیزې حوزې په کچه د بست د کمبود او اړتیا په صورت کې له یوه ښوونځي نه بل ښوونځي ته د اضافه زمره بستونو لېږدول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري د نورگل ولسوالۍ د بیلابیلو ښوونځیو څخه پنځه بستونه د نورگل سینزایو لیسې ته چې نوې یې لیسې کچې ته ارتقاء کړې ده، د زیاتې اړتیا له امله انتقال شوي دي.

2.5.9 لومړیتوب: د عمومي زده کړو د ښوونځیو د ښه والي او ودانۍ جوړلو په منظور د ستونزو پېژندل

9.1 فعالیت: د اړتیا او لازم گڼلو په صورت کې د عمومي زده کړو ښوونځیو د منازعې وړ پروژو له چارو څخه لیدنه او همغږي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د عمومي زده کړو ښوونځیو په پروژو کې منازعه نه ده رامنځ ته شوې.

9.2 فعالیت: د پروژو د تطبیق په منظور د عمومي زده کړو ښوونځیو د ودانیزو پروژو د اړتیاوو راټولول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د عمومي زده کړو ښوونځیو د ودانیزو پروژو د اړتیاوو راټولولو په اړه ټولو ولسوالیو ته د پروژو د ابتدائیې معلومات فورمې ویشل شوي دي او د ټولو ودانیزو پروژو اړتیاوې راټولې شوي او پوهنې وزارت ته استول شوي دي.

9.3 فعالیت: د عمومي زده کړو ښوونځیو د هغه ودانیزو پروژو په اړه چې د سیمې د اوسېدونکو د غوښتلیکونو له لارې دې اداري ته راغلي دي له ښکېلو ادارو سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د عمومي زده کړو ښوونځیو د ودانیزو پروژو په اړه د سیمې د اوسېدونکو غوښتنلیکونه؛ نه دي راغلي.

9.4 فعالیت: د عمومي زده کړو د جدید التآسیس، ارتقایي او نورو ښوونځیو چې ودانۍ (دیوال، احاطې، تشنابونو، د پاکو اوبو څاه) ته اړتیا لري د ودانیزو پروژو د ستونزو په اړه له ښکېلو اړخونو، مرکزي او ولایتي ریاستونو سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د عمومي زده کړو د جدید التآسیس، ارتقایي او نورو ښوونځیو چې ودانۍ (دیوال، احاطې، تشنابونو، د پاکو اوبو څاه) ته اړتیا لري د ودانیزو پروژو ستونزې د ځانگړو په فورمو په وسیله له ولسوالیو څخه راټولې شوي او پوهنې وزارت ته رسماً استول شوي دي چې په دې سره د پروژو د کیفیت د ښه والي او د کارونو د چټکتیا زمینه برابره شوې ده.

2.5.10 لومړیتوب: د عمومي زده کړو ښوونځیو د ساحو زرغونول

10.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د ښوونځیو د ساحو د زرغونتیا په منظور د نیالگیو او گلانو کښېنول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د څارندوی مدیریت له خوا په ۱۱ سړو سیمو ولسوالیو کې ۴۰۰ مثمر او غیر مثمر نیالگي د ښوونځیو د ساحو د زرغونتیا په موخه کینول شوي دي چې په دې سره د ښوونځیو چاپېریال ښکلی، پاک او زرغون شوی، د زده کوونکو ترمنځ د طبیعت مینه او د ساتنې احساس زیات شوی، د ښوونځیو فضا د زده کړې لپاره مناسبه شویده.

2.5.11 لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ساحو نظافت او پاکول

11.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د نظافت په منظور د حشر کارونه په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د خارندوی مدیریت له لوري په ۱٦ ولسوالیو کې ۲۹ د حشر کارونه د ښوونځیو د نظافت په موخه په لاره اچول شوي دي چې د حشر له لارې د ښوونځیو چاپېریال پاک او صحی شوی، د زده‌کوونکو د روغتیا کچه ښه شوې، د نظافت فرهنګ پیاوړی شوی او د زده‌کړې لپاره مناسب چاپېریال رامنځته شوی دی.

2.5.12 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو د میدانونو او لوبغاړو احصائیه ترتیبول

12.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د بېلابېلو رشتو د لوبغاړو او لوبو د میدانونو د احصائیې را ټولول

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د بدني روزنې مدیریت له خوا په ۴۱ بابه ښوونځیو کې د بیلابیلو رشتو د لوبغاړو او لوبو میدانونو احصائیه راټوله شوې ده چې په دې سره د سپورتي فعالیتونو واضح انځور ترلاسه شوی، د امکاناتو کمښتونه او اړتیاوې مشخصې شوې، د راتلونکو پلانونو لپاره دقیق بنسټ برابر شوی او د زده‌کوونکو د بدني فعالیتونو د پیاوړتیا لپاره مناسبې پرېکړې اسانه شوې دي.

.

2.5.13 لومړیتوب: د سواد زده‌کړي کورسونو جوړول

13.1 فعالیت: د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د سواد زده کړې عمومي مدیریت له لوري په سړو او تودو سیمو کې د رسمي ښوونکو له لارې ۲۲۴ بابه د سواد زده کړې کورسونه جوړ شوي دي چې د دې کورسونو په جوړېدو سره د بې سواده کسانو لپاره د لیک او لوست زمینه مساعده شوې د ګډونوالو علمي ظرفیت لوړ شوی او د ټولنې د پوهې کچه لوړه شوې ده.

13.2 فعالیت: د ملا امامانو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو جوړ

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ملا امامانو له لارې د سواد زده کړې کورسونو جوړولو لپاره د وزارت له لوري ځانګړی سهم نه دی راکړل شوی.

13.3 فعالیت: د راستنېدونکو او بېځایه شوو لپاره د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد فعالیت د ترسره کولو په موخه، د پوهنې وزارت له لوري د دې ریاست ته کافي بودیجه نه ده ځانګړې شوې.

13.4 فعالیت: د کوچیانو لپاره د قراردادي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د یاد فعالیت ترسره کولو لپاره د وزارت له لوري ځانګړی سهم او بودیجه نه دي راکړل شوې.

2.5.14 لومړیتوب: خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو ته جواز ورکونه، اعتبار ورکونه او پراختیا

14.1 فعالیت: په ټول هېواد کې د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونه تآسیسول

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه په ۲ ولسوالیو کې ۲ ښوونیز کورسونه تأسیس شوي؛ چې یو یې په مرکز کې د "فایز افغان" په نوم د انګلیسي ژبې او ریاضي کورس، بل په دره پیچ ولسوالۍ کې د

"بريالي" په نوم ښوونيز کورسونه تأسيس شوي دي او د چلند نمبر ۲ خصوصي کورس د تأسيس چارې تر کار لاندې دي او همدارنګه د ۴ بابه خصوصي ښوونځيو( کونړ نابغه خصوصي ښوونځي، ضياءالعلم خصوصي ښوونځي، الناصح خصوصي ښوونځی، مرسل خصوصي ښوونځی او کونړ ځلاند خصوصي ښوونځي) د تأسيس چارې د کار لاندې دي چې په راتلونکي کې به يې ټول قانوني کارونه بشپړ شي او په خپلو چارو به پيل وکړي.

14.2 فعاليت: دخصوصي ښوونځيو او ښوونيزو مرکزونو د جوازونو تمديد او اعتبار ورکونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مديريت له لوري د دوه بابه خصوصي ښوونځيو( طلحه صافي خصوصي ليسه او الزهور خصوصي ليسه) او يو باب خصوصي کورس ( چلند) جوازونو تمديد تر کار لاندې دی.

14.3 فعاليت: د لومړنۍ څخه منځنۍ او لېسه دورو ته د خصوصي ښوونځيو لوړوالی

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د لومړنۍ دورې څخه منځنۍ دورې ته او د منځنۍ دورې څخه لېسې دورې ته د خصوصي ښوونځيو د لوړوالي شرايط چا نه دي پوره کړي.

14.4 فعاليت: دخصوصي ښوونځيو او ښوونيزو مرکزونو د ملکيت د لېږد او پرېښودلو پروسې آسانه کول او ملاتړ

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د اسعداباد ښار اړوند يو باب خصوصي ښوونځی ( نوښت خصوصي ښوونځي) د يو مؤسس څخه بل مؤسسه ته پرېښودل شوي دی او د خصوصي کورسونو د ملکيت د لېږد او پرېښودلو پروسې په اړه چا مراجعه نه ده کړې.

## 2.6 د ټولني ګډون

2.6.1 لومړيتوب: د ولايتونو او ولسواليو په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي نمانځغونډو په لاره اچول

1.1 فعاليت: د مرکز او ولايتونو په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي نمانځغونډو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د بدني روزنې مديريت له لوري د خپلواکۍ بيرته اخيستلو ملي ورځې د لمانځنې په موخه د بيلابيلو ولسواليو ٦ ټيمونو ترمنځ يوه ورزشي سيالي په لاره اچول شوې ده.

2.6.2 لومړيتوب: د پوهنې نظام د سواد زده‌کړې برخې د پراختيا لپاره د ټولنې د ګډون جلبول

2.1 فعاليت: د ولايتونو، ولسواليو او ښوونيزو مرکزونو په کچه د سواد زده‌کړې برنامې لپاره د سرچينو د بسيجولو د لارښود په اړه اجراآت او لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د کونړ پوهنې رياست، ولسواليو او ښوونيزو مرکزونو په کچه د سواد زده‌کړې برنامې لپاره د سرچينو د بسيجولو لارښود د پوهنې وزارت له لوري نه دی راستول شوی.

2.2 فعاليت: د لومړيتوبونو په پام کې نيولو سره د ښوونيزو مرکزونو د جوړولو، تجهيز، ساتنې او مراقبت لپاره د سيمې د خلکو مادي او معنوي ګډون.

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د سواد زده‌کړې مرکزونو نه لرو چې ساتنه، تجهيز او مراقبت يې دخلکو له خوا ترسره شي.

2.3 فعاليت: د سواد زده‌کړې ښوونيزې برنامې د ښه تطبيق لپاره د ملي او سيمه‌ايزو سرچينو پېژندنه، جلب، جذب او ملاتړ

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د سواد زده کړې مدیریت له لوري په ١٦ ولسوالیو کې د ښوونیزو برنامو د ښه تطبیق په موخه، د ولایت په کچه د مرستیال والي په مشرې ۴، د ولسوالیو په کچه ١٦، او د کلیو په کچه ۱۷۵ غونډې ترسره شوې دي. برسېره پر دې، په څوکۍ او خاص کونړ ولسوالیو کې د سواد زده کوونکو سره یو تن ښوونکي او یو تن د کنډک قومندان له لوري ۴۵۰ افغانیو مرسته شوې ده.

2.4 فعالیت: د سیمې د خلکو په واسطه د سواد زده‌کوونکو، ښوونکو او نمونه کارکوونکو مادي او معنوي هڅونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د سواد زده کړې مدیریت له لوري په چپه دره، دره پیچ، منوره، سرکانو، خاص کونړ، وټه پور او دانګام ولسوالیو کې ۳۰۷ تنه د سواد زده کوونکي د سیمې د خلکو له خوا په معنوي شکل تشویق شوي دي.او همدارنګه سواد حیاتي ښوونکي، کارکوونکي او رضا کار ښوونکي نه لرو.

## 2.7 مدیریت

2.7.1 لومړیتوب: د هغه زده کوونکو لپاره چې د هېواد او له هېواد څخه بهر ښوونځیو کې د زده‌کړو د دوام غوښتونکي دي د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول

1.1 فعالیت: د زده کوونکو د ترانسکرپیت ترتیبول او ښوونیزو سوابقو له پراوونو تیرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري یو تن زده کوونکي ته د جرمنې هیواد ترانسکریپټ ترتیب شوی دی او همدارنګه ۴ تنه زده کوونکي په کابل کې امام ابو یوسف نمونوي ښوونځي ته پیژندل شوي دي، د ښوونیزو سوابقو د پراوونو تیرولو په اړه چا مراجعه نه ده کړې.

2.7.2 لومړیتوب: مخکې له ښوونځي څخه زده‌کړو د ښوونیزې برنامې له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه کول

2.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې مخکې له ښوونځي څخه د زده‌کړو له برنامو څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند په یوولسو ولسوالیو( اسعداباد، نرنګ، سرکانو، منوره، شیګل، شلتن، برکونړ، دانګام، غازي اباد، وټه پور او دره پیچ ) کې له ښوونځي مخکې د زده‌کړو ۵٦ بابه ټولګیو څخه چې ۱،٦۸۰ تنه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي د یونېسف نړیوالي مؤسسې اړوند درې تنه څارونکو لخوا یې په هره میاشت کې دوه یا درې ځله څارل شوي، چې په دې سره د تدریس کیفیت لوړ شوی، د ماشومانو ګډون زیات شوی، ستونزې یې حل شوي او د زده‌کړې عمومي بهیر اغېزمن او منظم شوي دی.

2.7.3 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د ورزشي امکاناتو برابرول

3.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو د اړتیا وړ ورزشي توکو برابرول او ویشل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونځیو لپاره ورزشي کڅوړې د وزارت له لوري نه دي راستول شوي.

2.7.4 لومړیتوب: د بدنې روزنې درسي مضمون د مفرداتو له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه کول

4.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د پوهنې د بدني روزنې د مدیریتونو او مضمون د درسي مفرداتو څخه لیدنه او څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د بدني روزنې مدیریت له خوا په مرکز، نرنګ، سرکانو، منوره او وټه پور ولسوالیو اړوند په ۳۰ بابه ښوونځیو کې د بدني روزنې درسي مضمون د مفرداتو له تطبیق

څخه څارنه ترسره شوې ده او د پوهنې ریاست د بدني روزنې مدیریت څارنه د پوهنې وزارت له لوري نه ده ترسره شوې.

2.7.5 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په کچه د څارندوی او څارنجونو د ګروپونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

5.1 فعالیت: د څارندوی د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د څارندوی مدیریت د څارندوی د لارښود دتطبیق په اړه د پوهنې وزارت له لوري لارښوونې نه دي ترسره شوې.

2.7.6 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د څارندوی د ترافیکو د ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

6.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند ښوونځیو کې د څارندوی د ترافیکي ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود د تطبیق په اړه د پوهنې وزارت له لوري لارښوونې نه دي ترسره شوي.

2.7.7 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د څارندوی د اطفائي ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

7.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند ښوونځیو کې د څارندوی د اطفائي ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود د تطبیق په اړه د پوهنې وزارت له لوري لارښوونې نه دي ترسره شوې.

2.7.8 لومړیتوب: د راپورونو تحلیل او توحید او له اړوندو مراجعو سره یې شریکول

8.1 فعالیت: د ولایتي ترسره شوو راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مدیریت د راپور ورکولو مسلکي غړو له خوا د څلورو برنامو او دوه عمومي مدیریتونو څخه د هرې میاشتې د عملیاتي پلان راپورونه راټول شوي دي له تحلیل او توحید وروسته ترې ربعوار توحیدي تشریحي راپور چمتو شوی او پوهنې وزارت ته استول شوی دی چې د راپورونو په ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کولو سره دقیق معلومات رامنځته شوي، د ښه تصمیم نیونې، همغږۍ او شفافیت لامل شوی او د کارونو اغېزمنتیا لوړه شوې.

8.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د مخدره موادو څخه د ګټې اخیستنې او ضررونو پر ضد د پوهاوي ورکونې پیغامونو تهیه کول او ترتیبول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د څارندوی مدیریت له لوري د اسعد اباد ښار اړوند په درې بابه ښوونځیو کې ۷۰۰ تنه، په نرنګ او منوړې ولسوالیو کې ۹۰۰ تنه او د سرکانو ولسوالی اړوند په درې بابه ښوونځیو کې ۸۲۰ تنه زده کوونکو ته د مخدره موادو څخه د ګټې اخېستنې او زیانونو په اړه د پوهاوی پیغامونه ترتیب او وړاندې شوي دي.

2.7.9 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې د پایلې ورکوونکو خدمتونو د برابرولو په منظور د سواد زده‌کړې برنامې د سیمه‌ایزه کارکوونکو د وړتیا لوړولو ورکشاپ دایرول

9.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې د دقیق راپور وړاندې کوني په موخه د راپور ورکوني او دیتابیس ورکشاپ دایرول او د دې ریاست په دیتابیس کې د سواد زده‌کړې برنامې د احصائیې او شمېر درجول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د سواد زده‌کړې د دقیق راپور وړاندې کولو په موخه د راپور ورکوني او ډیټابیس اړوند ورکشاپ د وزارت له لوري نه دی ورکړل شوی، او همدارنګه د سواد زده‌کړې احصایې لپاره ځانګړې ډیټابیس هم نه دی جوړ شوی.

2.7.10 لومړیتوب: تر اثر لاندې ریاستونو د پلانونو له تطبیق څخه څارنه، ملاتړ او وړاندې ترلاسه کول

10.1 فعالیت: تر اثر لاندې ریاستونو د پلانونو له تطبیق څخه څارنه، ملاتړ او وړاندې ترلاسه کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د وزارت له لوري د پلانونو له تطبیق څخه څارنه نه ده ترسره شوې.

2.7.11 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو له چارو ملاتړیزه څارنه

11.1 فعالیت: د امارتي او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو له چارو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ساینس مدیریت علمي غړو له لوري  د ۱۲۰ بابه عمومي زده کړو ښوونځیو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو له چارو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

2.7.12 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د ښوونکو او سرښوونکو د تدریس له بهیر څخه لیدنه او حمایوي څارنه او د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا ټیمونو د کړنو له ترسره کولو څخه د وړاندې ترلاسه کول

12.1 فعالیت: د مرکزي هستې او ولایتونو د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزي هستې علمي غړو له لوري د ۱۵ ولسوالیو د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له ټیمونو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده، او د ولایت په کچه ملاتړیزه څارنه د وزارت له لوري نه ده ترسره شوې چې د علمي غړو د څارنې په پایله کې د روزنیزو پروګرامونو کیفیت ښه شوی، د ښوونکو مسلکي مهارتونه پیاوړي شوي، موجودې نیمګړتیاوې په وخت تشخیص او اصلاح شوې، او د تدریس بهیر اغېزمنتیا لوړه شوې ده.

12.2 فعالیت: د عمومي زده‌کړو او سواد حیاتي ښوونځیو او سواد زده‌کړې کورسونو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزي هستې علمي غړو له خوا په ۱٦ ولسوالیو کې ۴۳۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځې، ۲۱٦ بابه د سواد زده کړې کورسونو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده چې له یادې ډلې ۹۰ بابه سواد زده کړې له کورسونو څخه په مکرر ډول څارنه ترسره شوې ده چې د ملاتړیزې څارنې په پایله کې د تدریس کیفیت ښه شوی، د ښوونکو او روزونکو وړتیاوې پیاوړې شوې، د پروګرامونو تطبیق منظم شوی، نیمګړتیاوې پر وخت اصلاح شوې او د زده‌کوونکو او ګډونوالو د زده‌کړې کچه لوړه شوې ده.

12.3 فعالیت: د ښوونیز کال په جریان کې لږ ترلږه څلور ځلې د رشتې سره سم د ښوونکو د تدریس له جریان څخه لیدنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزي هستې علمي غړو له خوا په ۱٦ ولسوالیو کې د ښوونیز کال په جریان کې لږ ترلږه د رشتې سره سم ۳،۲۷٦  تنه ښوونکو د تدریس له جریان څخه لیدنه ترسره شوې ده چې د ښوونیز کال په جریان کې د رشتې مطابق د ښوونکو د تدریس

له بهير ځخه د پرله‌پسې ليدنو په پايله کې د تدريس کيفيت ښه شوی، د ښوونکو مسلکي وړتياوې پياوړې شوې، تدريسي نيمګړتياوې پر وخت تشخيص او اصلاح شوې، د تدريس طريقې معياري شوې او د زده‌کوونکو د زده‌کړې کچه لوړه شوې ده.

12.4 فعاليت: د ښوونيز کال په جريان کې لږترلږه څلور ځلې د سرښوونکو او مديرانو د مسلکي کړنو له جريان څخه ليدنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا مرکزي هستې علمي غړو له خوا په ۱۶ ولسواليو کې د ښوونيز کال په جريان کې لږ تر لږه درې ځله د ۴۳۹ تنه سر ښوونکو او ۴۳۹ تنه مديرانو د مسلکي کړنو له جريان څخه ليدنه ترسره شوې ده؛ چې د منظمو ليدنو په پايله کې د تدريسي او اداري چارو کيفيت ښه شوی، ستونزې پر وخت تشخيص او حل شوې، حساب ورکونه پياوړې شوې او د ښوونيز بهير عمومي اغېزمنتيا لوړه شوې ده.

12.5 فعاليت: د ولايتونو په کچه د ترسره شوو څارنو او ليدنو څخه د علمي راپورونو تحليلول، توحيدول او وړاندې کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا مرکزي هستې علمي او ولسواليو علمي غړو د دولسو مياشتو راپورونه تحليل او توحيد شوي او وزارت ته لېږل شوی او د وزارت له لوري يې تحليل راستول شوی دی او لارښوونې يې بيرته ولسواليو ته د سمونې په موخه استول شوې دي چې په پايله کې يو منظم او معياري معلوماتي بانک رامنځته شوی، د پرېکړو نيولو بهير دقيق او شفاف شوی، عمومي ستونزې او اړتياوې په روښانه ډول تثبيت شوې او د راتلونکو پلانونو او پاليسيو لپاره قوي بنسټ برابر شوی دی.

<u>2.7.13 لومړيتوب: د په شرايطو برابرو ماشومانو د شموليت له جريان څخه ملاتړيزه څارنه</u>

13.1 فعاليت: په ښوونيزو مرکزونو کې د په شرايطو برابرو ماشومانو د شموليت له جريان څخه ملاتړيزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا مرکزي هستې علمي غړو او د ولسواليو د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري په ۴۳۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځيو کې په شرايطو برابرو ماشومانو د شموليت له جريان څخه ملاتړيزه څارنه ترسره شوې ده.

<u>2.7.14 لومړيتوب: د خصوصي ښوونځيو د فعاليت لپاره د قانوني او با کيفيته زمينې برابرول</u>

14.1 فعاليت: د خصوصي ښوونځيو د ستونزو او شخړو بررسي کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د خصوصي ښوونځيو د ستونزو او شخړو څېړلو په موخه د وزارت له لوري کوم ټيم نه دی راغلی.

<u>2.7.15 لومړيتوب: تصديق پاڼو ته د اعتبار ورکونې او ځانګړو معلوماتو را ټولونې ستونزو ته رسيدنه</u>

15.1 فعاليت: په خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو کورسونو کې د زده‌کوونکو د چارو ستونزو ته رسېدنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو کورسونو په کچه د زده کوونکو په چارو کې کومه ستونزه نه ده رامنځته شوې.

15.2 فعاليت: د خصوصي کورسونو د زده‌کوونکو تصديق پاڼو ته اعتبار ورکونه او په ډيتابيس کې يې ثبتول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د خصوصي کورسونو د زده‌کوونکو تصديق پاڼو د ثبت لپاره ځانګړې ډيټابيس نه لرو.

<u>2.7.16 لومړيتوب: په خصوصي ښوونځيو کې د تدريس د کيفيت لوړولو ته زمينه برابرول</u>

16.1 فعاليت: په مرکز او ولايتونو کې د خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو مرکزونو بېلګه‌ايز کنترول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مديريت له لوري د ۱۲ بابه خصوصي ښوونځيو( ام القراء خصوصي ليسې، خيبر افغانستان خصوصي ليسې،کونړ ډيوه ابتدائيه خصوصي ښوونځي، مسلم احساس خصوصي متوسطه ښوونځي، ضياء القران خصوصي متوسطه ښوونځی، ضياء القران نمبر ۲ خصوصي ابتدائيه ښوونځی، ويښ ولس ابتدائيه ښوونځی، څوکۍ خصوصي متوسطه ښوونځی، کونړاسپل خصوصي متوسطه ښوونځی،افغان شمشاد خصوصي متوسطه ښوونځي) د زده کوونکو فيسونو، جوازونو، کمپيوټر ليبونو، کتاب خانو، اداري او تدريسي چارو د لوړولو په موخه او همدارنګه د څلور بابه خصوصي کورسونو( چراغ، اعتماد، ويښ ولس او چلنې ۲) ښوونيزو مرکزونو د اداري، تدريسي او نورو اړونده چارو د کيفيت د لوړولو په موخه په بېګه يېز توګه کنترول ترسره شوی دی.

<u>2.7.17 لومړيتوب: د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختيا برنامو، د سواد زده‌کړې طرحې او له مرستندويه مؤسسو سره د تفاهم ليکونو د تطبيق څخه څارنه او ليدنه</u>

17.1 فعاليت: د سواد زده‌کړې برنامو د اغيزمنتوب او پراختيا د طرحې له تطبيق څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د ښوونې او روزنې معينيت له لوري د سواد زده کړې برنامو د اغيزمنتوب او پراختيا د طرحې له تطبيق څخه څارنه نه ده ترسره شوې.

17.2 فعاليت: د 46 ګڼې کړنلارې سره سم د غير دولتي مؤسسو سره د تفاهم ليکونو د اغيزمتتوب او تطبيق له څرنګوالي څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست په کچه د ښوونې او روزنې معينيت له لوري د 46 ګڼې کړنلارې سره سم د غير دولتي مؤسسو سره د تفاهم ليکونو د اغيزمتتوب او تطبيق له څرنګوالي څخه څارنه؛ نه ده ترسره شوې.

## برنامه 3: تضمين کيفيت

### 3.7 مديريت

<u>3.7.1 لومړيتوب: د احصائيې دقيقه راټولونه، جوړونه او شريکونه او احصائيوي ارقامو ته د ادارو آسانه لاسرسی</u>

1.1 فعاليت: د احصائيې او معلوماتو د راټولونې فورمې وروستي کول، د ۱۴۰۴ کال د احصائيې او معلوماتو را ټولول، د احصائيوي فورمو ډکول او د معلوماتو د مديريت په سيستم (EMIS) کې يې ثبتول.

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې رياست اړوند د احصائيې عمومي مديريت له خوا ۱٦ ولسواليو پوهنې امريتونو په کچه، د عمومي او اسلامي زده کړو ښوونيزو مرکزونو ته ۷۸۰ سيټه احصائيوي فورمې چاپ او ويشل شوي دي، چې يادې احصائيوي فورمې د اړوند ښوونځيو مديرانو او سرښوونکو له خوا له ډکولو وروسته د نومړې مديريت له خوا د معلوماتو د مديريت په سيستم کې ثبت شوې دي.

1.2 فعاليت: د ۱۴۰۴هـ ل کال د احصائيوي ارقامو پاکسازي يا (Data cleaning)

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د احصائیې عمومي مدیریت له لوري د ۷۸۰ بابه ښوونیزو مرکزونو د احصائیو ارقامو د پاکسازۍ (Data Cleaning) پروسه بشپړه شوې ده؛ چې داحصائیوي ارقامو د پاکسازۍ په پایله کې، معلومات له تېروتنو، تکرار او نیمګړتیاوو څخه پاک شوي.

1.3 فعالیت: د هېواد د ۱۴۰۴هـ ل کال د ښوونیزو بنسټونو د ارقامو تایید او تصدیق

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د ۱۴۰۴هـ ل کال د ښوونیزو بنسټونو د ارقامو تایید او تصدیق په پایله کې د 198 بابه ښوونیزو مرکزونو ارقام د پوهنې وزارت او کونړ پوهنې ریاست د احصائیې مدیریت کارمندانو له لوري تایید او تصدیق شوي چې په پایله کې یو باوري، کره او تصدیق شوی ډیټابیس ترلاسه شوی، چې د پلان جوړونې، پالیسي ټاکنې او پرېکړو نیولو لپاره د اعتماد وړ بنسټ برابر شوی دی.

1.4 فعالیت: د احصائیې په برخه کې د اسلامي زده کړو د بنسټونو د مسؤلینو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د احصائیې په برخه کې د اسلامي زده کړو بنسټونو مسؤلینو ته د بودیجې د نشتون له امله روزنه نه ده ورکړل شوې.

1.5 فعالیت: د پوهنې د معلوماتو د مدیریت د نوي سیستم تطبیق

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د پوهنې د معلوماتو د مدیریت نوی سیستم د وزارت له لوري نه دی فعال شوی.

1.6 فعالیت: د نویو جوړ شوو، مدغم شوو او له ځای څخه د تغیر شوو ښوونیزو بنسټونو د خصوصیاتو را ټولونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د احصائیې عمومي مدیریت له لوري د ۹ ولسوالیو ( اسعداباد، نرنګ، څوکی، نورګل، خاص کونړ، سرکانو، منوره، شیګل او اسمار) کې د ۱۸ بابه خصوصي ښوونځیو او مدرسو خصوصیات راټول شوي او د جي آی اس په سیستم کې ثبت شوي دي.

3.7.2 لومړیتوب: د ۱۴۰۴ هـ ل کال د لومړیتوبونو او عملیاتي پلان له تطبیق څخه څارنه او ډاډ ترلاسه کول؛

2.1 فعالیت: د ولایتونو د ۳۵ پوهنې ریاستونو او مرسته کوونکو موسسو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه او د سپارښتنو تعقیب.

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مدیریت د څارنې او ارزونې مسلکي غړو له لوري د ریاست مرکزي هستې (د ښوونې او روزنې، کیفیت تضمین او اسلامي زده کړو امریتونو) له عملیاتي پلان څخه هر اړخیزه څارنه شوې او د مامورینو کړنې ارزول شوي دي. همداراز، د مرسته کوونکو مؤسسو د ټاکل شویو لومړیتوبونو په چوکاټ کې، په نورګل، خاص کونړ، څوکی، نرنګ، منوره، شیګل، شلتن او وټه پور ولسوالیو کې د (ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسې، وطن او ابرار مؤسسو) ۲۹ بابه ټولګیو له فعالیتونو څارنه ترسره شوې، نیمګړتیاوې یې په ګوته شوي او په اړه یې اړینې لارښوونې ورکړل شوې دي.

2.2 فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مدیریت مسلکي کارکوونکو له خوا د نرنګ، منورې، شیګل، نورګل، خاص کونړ، دانګام، سرکانو او شلتن ولسوالیو پوهنې امریتونو د عملیاتي پلان د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه هر اړخیزه څارنه ترسره کړې ده چې څارنیز راپور یې د پوهنې ریاست سره شریک شوی دی.

2.3 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د پوهنې وزارت د تضمین کیفیت معینیت اړوند د څارنې او ارزونې د رئیس په مشرۍ پنځه کسیز هیئت د نورګل، دانګام، اسعداباد او پیچ درې ولسوالیو او د دې ریاست داخلې امریتونو او مدیریتونو د ۱۴۰۴ کال د لومړیتوبونو او عملیاتي پلان له تطبیق څخه څارنه ترسره کړې او همدارنګه د څلورو همکارو مؤسساتو( د ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسې، ابرار، وطن او کوار د ترسره شویو فعالیتونو څخه هر اړخیزه څارنه ترسره کړې ده چې یو څارنیز راپور یې پوهنې ریاست ته راستولی دی.  همدارنګه د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مدیریت د څارنې او ارزونې مسلکي کارکوونکو له خوا په نرنګ، منوره، شیګل، نورګل، خاص کونړ، دانګام، سرکانو او شلتن ولسوالیو کې د ۳۳ بابه ښوونیزو مرکزونو څخه د عملیاتي پلان د ټاکل شویو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده او ۱۷ څارنیز راپورونه یې پوهنې ریاست ته وړاندې کړې دي.

<del>3.7.3 لومړیتوب: د پوهنې وزارت په بېلا بېلو کچو کې د راپور ورکونې د سیستم د پراختیا او تطبیق ښه والی</del>

3.1 فعالیت: د لومړیتوبونو\عملیاتي پلان په اساس د راپور ورکونې د آنلاین سیستم اصلاح، نوي کول او تطبیق

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د  د لومړیتوبونو\عملیاتي پلان په اساس د راپور ورکونې آنلاین سیستم فعال شوي او د پوهنې ریاست داخلي مدیریتونو او امریتونو راپورونه په کې ثبت شوي د ي او د تطبیق وړ دی.

3.2 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو د عملیاتي پلانونو له تطبیق څخه د میاشتنیو راپورونو را ټولول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ۱٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د عملیاتي پلان د تطبیق او کړنو د پرمختګ ۱۴۴ میاشتنې راپورونه راټول شوي چې له دغې جملې څخه ۴۲ میاشتنې راپورونه په سیستم کې ثبت شوي او د پاتې راپورونو په ثبت باندې کار روان دی.

3.3 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو د عملیاتي پلانونو له تطبیق څخه د ربعوارو راپورونو را ټولول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د داخلي امریتونو او عمومي مدیریتونو په کچه د عملیاتي پلان دتطبیق او کړنو د پرمختګ د ۱۲ میاشتنې راپورونه راټول شوي او له هغې څخه ۴ ربعوار تشریحي راپورونه تحلیل او توحید شوي دي او د ولسوالیو څخه ربعوار راپورونه نه دي راټول شوي ځکه چې د راپور ورکولو په انلاین سیستم کې د ولسوالیو د ربعوار راپور د ثبتولو ځای نشته.

3.4 فعالیت: د راټول شوو راپورونو تحلیل او توحید

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مدیریت د راپور ورکولو مسلکي غړي له لوري  د پوهنې ریاست اړوند د اخلي مدیریتونو او امریتونو د ۱۲ میاشتو او ۴ ربعو  راپورونه راټول شوي چې له دغې څخه د ۴ ربعوار راپورونه تحلیل او توحید شوي دي او تشریحي راپورونه یې پوهنې وزارت ته استول شوي دي.

3.5 فعالیت: د پوهنې وزارت له ویب سایت څخه د عملیاتي پلان د پرمختګ د راپورونو خپرول

د پوهنې وزارت له ویب سایت څخه د ۱۴۰۴ کال د لومړیو شپږ میاشتو او کلني راپورونو خپرول، د پوهنې وزارت د راپور ورکولو د کارپوهانو دنده او مسؤولیت ګڼل کېږي.

3.7.4 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په کچه د څارنې او ارزونې ریاست د کارکوونکو د وړتیاوو لوړول

4.1 فعالیت: د څارنې، ارزونې، راپور ورکونې کارکوونکو او د ادارو د راپور ورکونې مسؤلینو ته د ښونیزو توکو د بستې برابرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د څارنې، ارزونې او راپور ورکونې کارکوونکو او همدارنګه د برنامو او مدیریتونو د راپور ورکونې مسؤلینو ته د وزارت له لوري ښوونیزې بستې نه دي برابرې شوې.

4.2 فعالیت: د ولایتي څارنې، ارزونې او راپور ورکونې برخو د کارکوونکو روزل او وړتیا لوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د وزارت له لوري د څارنې، ارزونې او راپور ورکونې برخو کارکوونکو ته روزنه نه ده ورکړل شوې.

3.7.5 لومړیتوب: د شهادت نامو د ترتیبولو او وېشلو د پروسې له پړاوونو تېرول

5.1 فعالیت: د ښوونیزو بنسټونو د متفرقه شهادت نامو ترتیب، تدقیق، پړاوونو تیرول او وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د اسلامي زده کړو دیني مدرسو 48 تنه طالب العلمانو ته د بیلاب یلو کلونو شهادتنامې د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له خوا ترتیب او ویشل شویدي او د ښوونکو د روزنې فارغینو تر اوسه پورې خپلې تذکرې او د شهادتنامو قیمت نه دی تسلیم کړي له همدې امله یې د شهادتنامو ترتیب او ویش پاتې دی.

5.2 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه د راغلو انفرادي شهادت نامو ترتیب، تدقیق، له پړاوونو تېرول او وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د نتایجو او شهادتنامو عمومي مدیریت له لوري د عمومي زده کړو د بیلابیلو امارتي ښوونځیو د دولسم ټولګیو فارغ 171 تنه زده کوونکو ته او همدارنګه د اسلامي زده کړو 38 تنه فارغ زده کوونکو ته په انفرادي توګه شهادتنامې ویشل شوې دي چې په دې سره د زده‌کوونکو رضایت او هڅونه زیاته شوې، د تعلیمي اداري اعتبار پیاوړی شوی، او فارغانو ته د نورو زده‌کړو او کاري فرصتونو لپاره زمینه برابره شوې.

5.3 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه د راغلو ګروپي شهادت نامو ترتیب، تدقیق، له پړاوونو تېرول او وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د نتایجو او شهادتنامو عمومي مدیریت له خوا د ۱۴۰۲ او ۱۴۰۳ کالونو د عمومي زده کړو 66 بابه امارتي ښوونځیو د دولسمو ټولګیو ۴،۵۲۴ فارغو زده‌کوونکو شهادتنامې ترتیب، تدقیق او د اړوندو پړاوونو له تېرولو وروسته د وزارت له لوري تأیید شوې او له تأیید وروسته فارغ زده‌کوونکو ته ویشل شوې دي او د اسلامي زده کړو فارغینو د شهادتنامو دبیې او پیژند پاڼو نه تسلیمولو له امله شهادتنامې نه دي اجراء شوې او همدارنګه د ښوونکو د روزنې فارغ زده کوونکو ته د وزارت له لوري  په ګروپې ډول سپینې شهادتنامې نه دي ورکړل شوې.

5.4 فعالیت: د مرکز او ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د شهادت نامو د سپینو ورقو وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د نتایجو او شهادتنامو مدیریت ته د پوهنې وزارت له لوري ۴،۰۹۶  قطعې سپینې شهادتنامې ورکړل شوې دي، چې په دې سره د فارغ شویو زده‌کوونکو د شهادتنامو د کمښت ستونزه حل شوې،او همدارنګه د شهادتنامو  پر وخت وېش ته زمینه برابره شوې ده.

3.7.6 لومړیتوب: د ښوونیزو بنسټونو د فارغانو د نتایجو د کیفیت تضمین او اعتبار ورکونه

6.1 فعالیت: د ښوونیزو بنسټونو د ۱۴۰۳ هـ ل کال د فارغانو د جدولونو تطبیق او تایید

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ۱٦ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لوري د ۱۴۰۳ او ۱۴۰۴ هـ ل کال دعمومي زده کړو امارتي ښوونځیو د دولسم ټولګیو فارغانو ٦٨ جدولونه، د خصوصي ښوونځیو فارغانو ۱ جدول، د اسلامي زده کړو فارغانو ۲۰ جدولونه او د سامع فارغانو ۸۲ جدولونه تطبیق او د وزارت له لوري تأیید شوي دي.

3.7.7 لومړیتوب: د همغږۍ ښه‌والی او مدیریت او د ریاست کاري ظرفیت لوړول

7.1 فعالیت: د نتایجو د جدولونو او شهادت نامو د سیستم د تخنیکي ستونزو د حلولو په منظور ولایتونو ته سفر

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د نتایجو د جدولونو او شهادت نامو د سیستم د تخنیکي ستونزو د حلولو په موخه د وزارت له لوري هیئت نه دی راغلی.

## برنامه 4: مالي او اداري

### 4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/د سواد زده کړې زده کوونکی

**په دې برخه کې کوم اولویت/فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل**

### 4.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی

4.2.1 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د خالي بستونو لپاره د رشتې سره سم د مسلکي ښوونکو په وخت ګمارنه

1.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو، پنځمو او شپږمو اداري بستونو د رقابتي ازموینو د طرحې د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د پنځمو او شپږمو اداري بستونو د رقابتي ازموینو د طرحې د تطبیق لپاره د پوهنې وزارت له لوري لارښوونې نه دي شوې.

1.2 فعالیت: د ښوونکو د سپینو بستونو تثبیتول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونکو سپین بستونه نه لرو.

4.2.2 لومړیتوب: د اداري، ښوونیزو مرکزونو او ښوونکو د ښارګوټو جوړولو لپاره د ځمکې برابرول

2.1 فعالیت: د ښوونکو او مدرسینو لپاره د کور جوړولو په موخه د ځمکې برابرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ښوونکو او مدرسینو لپاره د کور جوړولو په موخه ځمکه نه ده برابر شوې، ځکه چې کونړ یو غرنی ولایت دی او د کورونو جوړولو لپاره لازمې پراخې او همواري ځمکې نه لري.

### 4.3 نصاب

**په دې برخه کې کوم اولویت/فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل**

### 4.4 ښوونیزه ارزونه

**په دې برخه کې کوم اولویت/فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل**

### 4.5 ښوونیز چاپېریال

**4.5.1 لومړیتوب: د نیمګړو ودانیزو پروژو د پشپړولو لپاره د لازمو تدبیرونو نیول او تعقیب.**

1.1 فعالیت: د نیمګړو ودانیزو پروژو بشپړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت تر څارنې لاندې د غازي اباد پوهنې امریت اړوند د خوګۍ هلکانو لیسې نیمګړې ودانیزه پروژه د ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسې له لوري بشپړه شوې ده.

1.2 فعالیت: د نیمګړو پروژو د تطبیق او بشپړولو څخه مقطعي څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د نیمګړو پروژو د بشپړولو لپاره بودجه نه ده ځانګړې شوې له همدې امله مقطعي څارنه نه ده ترسره شوې.

1.3 فعالیت: د 1405 هـ ل کال پلان لپاره د نیمګړو ودانیزو پروژو نوملړ برابرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت له خوا د ۱۴۰۵ هـ ش کال د پلان لپاره د ۹ نیمګړو ودانیزو پروژو نوملړ ترتیب او د پوهنې وزارت ته استول شوی دی چې یادې پروژې په غازي‌آباد، نرنګ، منوره، دانګام، ناړې، سرکانو او مرکز اسعدآباد کې موقعیت لري او عبارت دي له: د خوګۍ هلکانو لیسه، د درین نجونو ابتدائیه، د سلامزي کموټي مختلط ابتدائیه، د نرنګ کوډو ابتدائیه، د منورې دیني مدرسه، بیداد نجونو متوسطه، شاه مسیر متوسطه، پشد هلکانو لیسه او د اسعدآباد مرکزي لیلیې ودانۍ څخه عبارت دي، چې په دې سره د ودانیزو پروژو بشپړتیا او د تطبیق پلانونه مشخص شوي دي، هېره دې نه وي چې د دغه نوملړ څخه یو باب د خوګۍ هلکانو لیسې نیمګړې چارې د ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسې له لوري بشپړې شوې دي.

**4.5.2 لومړیتوب: د خطر سره مخ تاسیساتو ترمیمول**

2.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د عادي بودجې څخه د پوهنې وزارت د خطر سره مخ ښوونیزو او اداري مرکزونو د تآسیساتو ترمیمول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت د مستقیم څار لاندې د حماد افغان ساختماني شرکت له لوري ۴۲۴،۰۰۰ افغانیو په لګښت د کونړ پوهنې ریاست په بېلابېلو ولسوالیو کې د پوهنې وزارت د عادي بودجې څخه د خطر سره مخ ۹ بابه ښوونیزو مرکزونو د ترمیماتو چارې بشپړې شوې دي چې عبارت دي له: (۱- د سرکانو پوهنې امریت اړوند د مسلم اباد ابتدئیه ښوونځي احاطوي دیوال ترمیم. ۲- د اسعداباد ښار پوهنې امریت اړوند د بي بي فاطمې لیسې د ودانۍ ترمیم. ۳- د اسمار پوهنې امریت اړوند د زوړ اسمار نجونې لیسې د ودانۍ ترمیم. ۴- د چپې درې پوهنې امریت اړوند د سیدور متوسطې ودانۍ ترمیم. ۵- د ناړې پوهنې امریت اړوند د حقاني دیني مدرسې د تعمیر او تشنابونو ترمیم. ٦- د اسعداباد ښار پوهنې امریت اړوند د شګۍ متوسطه ښوونځي د احاطوي دیوال ترمیم. ۷ – د چپې درې پوهنې امریت اړوند د امام الاعظم ابوحنیفه رحمه الله دیني مدرسې دیوال اساسي ترمیم ۸- دمنورې هلکانو لیسې یوه تدریسي خونه ترمیم شویده ۹- د شیګل دیني مدرسې احاطوي دیوال) چې په پایله کې د زده کړو لپاره خوندي چاپېریال رامنځته شوی او د ښوونیزو مرکزونو په ترمیم سره د زده کړو کیفیت ښه شوی دی.

2.2 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مرسته کوونکو مؤسسو له بودجې څخه د پوهنې وزارت د ښوونیزو او اداري مرکزونو له خطر سره مخ تآسیساتو د ترمیماتي پروژو تطبیق

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست په کچه د ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت په همکارۍ د ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسې، ابرار مؤسسې او،سې، ایچ، ار مؤسسې  له بودجې څخه د ۱٦ بابه تأسیساتو ترمیماتي پروژو چارې بشپړ شوې دي چې په بشپړو شوي پروژو کې د بر نرنګ هلکانو لیسه، د سینزو هلکانو متوسطه، ننګلام نجونو لیسه، څوکۍ زوړ کلي ابتدائیه، شهید حسن جان ابتدائیه، جمعیت هلکانو لیسه، شینګوړک هلکانو لیسه، وټه پور هلکانو لیسه، دانګام پوهنې امریت اړوند دیرۍ دیني مدرسه، غازي اباد پوهنې امریت اړوند د څوکۍ هلکانو لیسه، څوکۍ باړو نجونو متوسطه، نورګل نجونو لېسه او هلکانو لیسه، خاص کونړ تنر نجونو لېسه، خاص کونړ منګوال هلکانو لیسه، ملالۍ میوند نجونو لیسه شاملې دي او همدارنګه په ۱۲ بابه ښوونځیو کې بیلابیلې ترمیماتي پروژې تر کار لاندې دي، چې په ترمیماتو کې احاطوي دیوالونو رنګ، د ۴ بابه ښوونځیو اداري او تدریسي خونو ترمیم، د څاه، د سولر سیستم، احاطوي دیوال  او د ودانۍ ترمیم شامل دي.

